دلوړو ذده کـــــړو وزارت
دپولي تخنیک پوهنتون
ساختماني پوهنځۍ

# دساختمان اقتصاد



ترتیب کوونکی : محترم پوهندوی دوکتور عبدالرحیم حسینیان
پښتو ژبـــاړه : انجنیرمحمد حامد عمر
کـــــال : ۱۳۸۹ لمریز

# غوره شوي مطالب

شماره عنوان صفحه


لمړی فصل

۱ - دساختمان اقتصاد ...... (۱)

۲ – دساختماني اقتصاد مهم مسایل او موضوعات ...... (۲)

۳ – دهیواد په ملي اقتصاد کې دساختمان ارزښت ...... (۳)

٤ – دساختمان تخنیکي او اقتصادي خصوصیات ...... (٤)

٥ – اقتصادي سیستم ...... (٤)

دوهم فصل

٦ – اساسي (بنسټیز ) فندونه ...... (۹)

۷ - داساسي (بنسټیزو)فندونو اقتصادي ارزښت ...... (۹)

۸ -تولیدي اساسي (بنسټیز) فندونه ...... (۹)

۹ - غیرفعال تولیدي اساسي فندونه ...... (۹)

۱۰ -غیرتولیدي اساسي فندونه ...... (۹)

۱۱ - دتولیدي اساسي فندونو صنف بندي ...... (۱۰)

۱۲ - داساسي فندونو دارزیابۍ لارې اوطریقې ...... (۱۰)

۱۳ - داساسي فندونوفرسایش اودهغه ترمیمات ...... (۱۰)

١٤ - معنوي فرسایش ...... (۱۱)

۱٥ - داساسي فندونوترمیمات ...... (۱۲)

۱٦ - داساسي فندونو استهلاک ...... (۱٤)

داساسي فندونو څخه دمؤثرې استفادې شاخصونه ...... (۱٥)

دریم فصل

۱۷ - دوراني وسائل (فندونه ) ...... (۱۸)

۱۸ - دساختماني مؤسساتو دوراني وسائل ...... (۱۸)

۱۹ - ددوراني وسائلو صنف بندي ...... (۱۹)

۲۰ - ددوراني وسائلو څخه دمعقولې اومؤثرې استفادې اخستنې لارې ...... (۲۰)

څلورم فصل

۲۱ – په ساختماني موسساتوکې دکاري قوې منابع ...... (۲۲)

۲۲ – دساختماني موسساتو کدرونه ...... (۲۲)

۲۳ – په ساختماني امورو کې اجوره اودهغه شکلونه ...... (۲۳)

٢٤ – په ساختماني امورو کې دمزد (اجورې) توزيع کولو سيستمونه.........................(٢٤)
٢٥ - دساختماني کارونوبازدهي (عرضه او تسليم کول )..................................(٢٧)
پنځم فصل
٢٦ - دساختماني محصولاتو تمام شوی قيمت...............................................(٣٢)
شپږم فصل
٢٧ - په ساختماني امورو کې قيمت...........................................................(٣٣)
اووم فصل
٢٨ - په ساختماني مؤسساتو کې مفاد اوفايده داري.....................................(٣٥)
آتم فصل
٢٩ - برآوردي ارزښت .......................................................................(٣٨)

نوټ : ددې کتاب (دساختمان اقتصاد) اصلي کافي دژباړن سره ساتل شوېده .
په نوموړي کتاب کې که کومه غلطي موجوده وي د مؤلف غلطي نه ده او هغه دژباړن اشتباه ده ,
دهغه له موجود يت څخه بخښنه غواړم يا تاسې کولای شئ په لاندې پتو او ګرځنده تليفوني اړيکو
د ژباړن سره په ژندی بڼه اړيکه ټينګه کړی :

برېښناليک پته : omerwardag@gmail.com
ګرځنده شميره: +93(0)779 40 70 22 يا +93(0)789 25 61 35
دکتاب دترلاسه کولو ويب پاڼه: www.hamidomer.wordpress.com

ډالـــــی:

دزړه په مينه يې خپل ګران  ورور ډاکټر محمد عابد عمر
ته چې دده طبي ځلانده  ژوند زما دتحصيل دلارې بل
مشال  وګرځېد ډالی کوم .

بسم الله الرحمن الرحيم

# لمـــــــړی فصل
## دساختمان اقتصاد
### عمومي معلومات

**مقدمه :**

ډیرد خوشحالۍ اوشکر ایستلو ځای دی چې الله (ج) مونږته دا فرصت راپه برخه کړېدی ترڅو پولي تخنیکي پوهنتون دساختماني پوهنځۍ ددریم صنف په لمړي اودوهم سمسترکې دساختماني اقتصاد په نوم مضمون ترمطالعې لاندې نیسو .

ساختماني اقتصاد برعلاوه لدې چې دیوه اختصاصي (څانګه وی ) عنوان په بڼه دپولي تخنیک پوهنتون دساختماني پوهنځۍ په درسي پروګرام کې ځای په ځای شوېدی , بلکه د نړۍ په نورو فني , انجنیري او داسې نورو اختصاصي څانګو کې د یوه بنسټیز او اصلي – تخصصي عنوان په بڼه تدریس کیږي .

برعلاوه دلوړو ذده کړو له موسسو څخه په نورو صنعتي موسسو , ساختماني شرکتونه او هغه ساختماني موسسې چې دساختماني پروژو سره سروکار لري تدریس کیږي .

دیادولو وړ ده چې زمونږ په ګران هیواد افغانستان کې دسنجش او برآورد لپاره انجنیران , دلوړو ذده کړو له فني –انجنیري څانګو څخه فارغان , ساختماني انجنیران , الکترومیخانیک انجنیران , دمعدن او ګازو داستخراج انجنیران , او داسې نور انتخاب کیږي .

نوموړي کسانو دخپلو اړوندو څانګو څخه فارغ شوي او په مربوطه ساحاتو کې دپوهنتون له فراغت څخه وروسته دګټورو تجربو په حاصلولو سره په زیاتو پروژو کې دهغه داقتصادي محاسباتو یوائېني عناصر ګڼل شویدي .خو له بده مرغه په دغه هیواد کې دنورو هیوادو په پرتله دمتخصصینو , فارغ تحصیلانو او فني کسانو دکمبودۍ په وجه په لمړیو کالو کې داداري او سرپرستۍ په سطحو کارګمارل شوي دي اوهمدا لامل دی ترڅودوی په علمي –اقتصادي لارو خبرشي .

دساختمان اقتصاد یوه دوره اودوه سمستره په برکې نیسي او په ساختماني پوهنځۍ کې ټولو څانګوته تدریس کیږي .

ددغه مضمون مطالب په نویو ساختماني قواعدو اوطریقو استوار دي او دا لارې دفني او اقتصادي موثریت داجراء لپاره وضع شویدي نوپدې بنسټ ددغه مضمون ذده کړه خورا داهمیت وړده .

دساختمان اقتصاد یو غوړېدلی او پراخه مضمون دی , پدې برخه کې د قناعت وړ ساختمان لپاره مختلفې لارې شته او دا لارې دساختماني اقتصاد څخه په کلکه پیروي کوي او ساختماني اقتصاد په واقعیت کې په دغه اصولو استوار دی .

دساختماني اقتصاد له ذده کړې څخه داړوند موضوعاتو په اړه دیوې نظریې پیداکول دي خو په اصل کې دا یوه عملي جنبه لري .کله چې دذده کړې دوره پرمختللې سطحې ته ورسیږي اوهم دعملي مشاهداتو-لیدنو او عملي تجربو په ترڅ کې کولای شي تریوه ځایه خپل مشکلات حل او فصل کړو .

زمونږ په ګران هیواد افغانستان کې یوله عمده مشکلاتو څخه دمسکوني منازلو تامینول , دابورسونې او اوبو لګونې پروژې احداثول , دسړکونو جوړول , دلویو لویو بناګانو او بندونو جوړول او بلآخره دتولیدي پروژو نشتوالی دی .چې دماسترپلان مطابق اعماراو په کارواچول شي .

دساختماني مشكلاتو او ضرورتونو رفع كول ترډيره حده دانجنيري طرحې او ډيزاين پورې اړه لري چې دخاصو تكنالوژيكي قواعدو , سازماندهۍ او اقتصاد پربناء سره حل كيداى شي .

ددغه مضمون دتدريس ضرورت په لاندې ځو ټكوكې سره راټولوو :
الف – دساختماني – مسلكي كارونو آماده كول .
ب – ساختماني كارونو ته د اقتصادي موثريت او تامينيت په لاره كې پراختيا اووسعت وركول .
ج – دساختماني پروسو اړوند اسنادو (محاسبوي او نورماتيفي ) څخه داستفادې په لاره كې ځان خبرول .
د – دساختماني اقتصاد له نويو تجربو څخه استفاده او ګټه اخستل او دهغه يوځاى كول دعملي كارونو سره ...

# دساختماني اقتصاد مهم مسائل او موضوعات

دساختمان اقتصاد ديوه اختصاصي او ځانګه وى علم په بڼه دساختمان دانكشافي قوانينو, ودې او دتوليد په تنظيم كې دهغه څخه مؤثره ګټه اخستنه ترمطالعې , تحليل , تحقيق , ارزيابۍ او سنجش لاندې نيسي .
دساختمان اقتصاد د اقتصادي علومو يوه ځانګه ده چې دساختماني امورو انكشافي قوانين دملي اقتصاد داساسي اوبنسټيزې ځانګې په بڼه ترمطالعې لاندې نيسي .
داعلم داسې طريقې اولارې ترڅېړنې لاندې نيسي چې دهغه په واسطه انسان دخپلو نامحدودو ضرورتونو دپوره كولو لپاره دمحدودو منابعو څخه په ګټه اخستنه په كاروړي .
داقتصاد علم ديوه هيواد دملي ګټو په خاطر دښوننتايجو هغه شرايط اوعوامل ترڅېړنې لاندې نيسي ترڅودكمومصارفو په مرسته موثرې توليدي – اقتصادي لارې پيداكړي ترڅو د موسساتو (داخلي او بهرنۍ ) د ظرفيتونو كميت اوكيفيت اواقتصادي موثريت ته وده وركړي
نومورې علم دانسان دنامحدودو ضرورتونو دپوره كولو پخاطر دمحدودو منابعو څخه په استفاده لارې اوطريقې څېړي پس ويلى شو چې :
داقتصاد علم په ودانيز اوساختماني لحاظ معينې ساختماني پديدې او انكشافي قوانين ترمطالعې لاندې نيسي . خو داهم بايد زياته كړو چې داقتصاد علم ديوه ځانګه وي علم اهميت لري , او دهري ځانګې انكشاف دهمغه مربوطه جامعې په اقتصادي قوانينوپورې اړه لري .
لكه څرنګه چې مخكې مووويل دساختمان اقتصاد دساختماني معينو شكلونو اقتصادي مناسبات او دتوليد موثرې لارې څېړي نولدې كبله دهيواد دزياتواقتصادي موسساتو دندې په لاندې ډول دي راټولولاى شو:
١ – دكاري پروګرامونو پلي كول .
٢ – دتوليد منظمه پروسه منځ ته راوستل (دكمومصارفوپه لړ كې ډيرتوليد).
٣ – دمادي منابعو پلټنه كول .
٤ – انكشافي پروګرامونه عملي كول .
دانكشافي برنامواوپروګرامونو بنسټيز اوعمده مسايل چې دساختماني موسساتو په توليدي پروسوكې عمده رول لري لاندې نقاط تشكيلوي .
١ – ودانيزو محصولاتو او دهيواد ملي - اقتصادي ځانګو ته وده اونمو وركول.
٢ – دموجوده توليدي ذخايرو څخه دممكنه او موثرې ګټې اخستنې سره سره دتوليد موثريت لوړول .

۳ – دتولیدي محصولاتو دکیفیت او کمیت لوړول او هم دضایعاتو دکموالي په موجودیت کې دتولید او مصارفو برابرول .
٤ – دصنعتي محصولاتو پراختیا , بیاجوړونه او دساختماني موسساتو مجهزکول , دنویو ظرفیتونو په کاروړل.
٥ – دخامو موادو او انرژی تامینول .
٦ – دکاردیسپلین ټینګول او کمومصارفو ته توجه کول .
٧ – دملي اقتصاد په انکشافي پروسو کې دخصوصي سکتورتقویه کول او دهغه پوتانشیلي (قوه اي ) جذبول .
٨ – بشري قوې ته انکشاف ورکول او دهغه د تاثیرسطح لوړول اوپه بیارغاونه کې هڅه کول , تعلیماتي شبکې ته پراختیا او توسعه ورکول , حرفوي او مسلکي تعلیمات خورول او دکارکوونکو دمهارت سطح لوړول .
٩ – داساسي ساختمانونو په ډګرکې دمادي – تخنیکي او مالي – بشري اقتصادي منابعو په کار وړل او دهغه څخه موثره ګټه اخیستل .
١٠ – دعمده تکمیل شویو پروژو څخه په ناتکمیل شویو پروژو کې په پوره توګه ګټه اخیستل .
١١ – دپروسې فعالیت ته سرعت بخښل او په پروژوي پروسو کي دماشین آلاتو نصبول .

## دهیواد په ملي اقتصاد کې دودانیو ارزښت

پو هیږوچې ودانۍ دتولنیزو محصولاتو له جملې څخه شمیرل کیږي او دیوه هیواد دملي اقتصاد دپرمختګ په لاره کې اساسي او بنسټیزرول لري او له بله پلوه ویلای شوي چې هیڅ یوه صنعتي , مدني , کلتوري او داسې نورې ورته موسسې وجود نلري چې په هغه کې ساختماني فعالیتونه وجود ونلري , نوپدې بنسټ دیوه هیواد داقتصادي برخو دډینامیکي ودې لپاره ودانۍ (ساختمان) یو حتمي اوضروري امردی او دهغه دډینامیکي نمو بنسټیز عامل دی .
ساختمان (ودانۍ) په ساختماني موسساتو کې دیوه بنسټیز عنصر په توګه دهغه دتناسب اړخونه اودنمولارې چارې تعینوي .
ساختماني اقتصاد نه یوائې په اوسني وخت بلکه دیوه هیواد داعماراو پرمختګ په لاروکې مثبت بدلون او تاثیر راولي , نوله همدې کبله لازمه ده چې دهیواد دمادي ا وتخنیکي پایو دټینګولو لپاره ترټولولمړی دهغه اقتصادي څانګې په اساسي فندونواوتولیدي موسساتو مجهز کړو , ودانیزکاري پروګرامونه او دسرمایه ایښودنې سیستمونه پلي کړو .
ساختمان یو کلي او جامع مفهوم لري , او دمختلفومدني , کلتوري او مادي تولیداتو څخه نمایندګي کوي او په مختلفو څانګو کې دمختلفوتعمیراتو او تاسیساتو نصبول په برکې نیسي .
له پورتنیو توضیحاتو څخه دې نتیجې ته رسیږوچې دیوه بنسټیز ساختمان هراړخیزه پرمختګ دهیواد دنورو اقتصادي څانګو دډینامیکي پرمختګ او ودې سبب ګرځي , نولدې کبله دهیواد داجتماعي ا واقتصادي برنامو دپراختیا لپاره باید ساختماني اموروته ترخپله وسه پورې توجه ولرو او په کافي اندازه سره دبیارغاونې او بیاجوړونې په اساسي او ترمیماتي برخو کي کوښښ وکړو .

# د ساختمان اقتصادي او تخنيکي خصوصيات

ساختمانونه لاندې غوره تخنيکي - اقتصادي خصوصيات لري چي دا خصوصيات دهغه په توليدي پروسه کې مستقيم تاثيرات لري .

۱ –ودانۍ په عملي ډول دملي اقتصاد په ټولو څانګو لکه زراعت - مالداري , تجارت , معدن - صنعت , انرژي , بندونه او کانالونه او داسي نورو سره نژدی اړيکي لري چي دهمدغه ساختمان دانکشافي فعاليتونو بنسټ بلل کيږي او هم دهغه دتوليدي فعاليتونو موثريت ته وده وربخښي نوپدې بنسټ راتلونکي اوجاري انکشافي پروګرامونه داساسي , کلتوري , اداري او مدني ساختمانونو داعمار , احيا , توسعې او ترميم لپاره دمعيني سرمايه ايښودنې او راتلونې سيستمونو غوښتنه کوي .

۲ –دودانيو ټول معين شکلونه دلوړ, مختلف , پيچلي او غيرمتحرک مقياس لرونکي دي چي په دې صورت کې دکار دوامداره پروسه په برکې نيسي اوزياتومصارفوته اړتيالري او هم دتسليمولو (تلافي) وخت زياتيږي اوله بله پلوه مصرف شوې سرمايه ددورانې فند په شکل په توليدي پروسه کې په زياته اندازه برخه اخلي اودګردشي فندپوه سسته پروسه رامنځ ته کيږي .

۳ – ساختماني کار يوه انتقالي اوسياره پروسه ده , په يوه ساحه کې د ساختماني کارپه پای ته رسېدو سره دهغه ټول تجهيزات , کاري وسايل اوپرسونل دبلې پروژې په شروع کولو سره نقليږي چي په دې لاره کې دموقتي تعميراتو اوکاري شرايطودآماده کولولپاره ضرورت دی اوهم دنويو ماشين آلاتونصبولولپاره دمصارفو او وخت زياتوالي ته ضرورت رامنځ ته کيږي چي دارنګه کارداضافي مصارفوباعث ګرځي .

٤ – ساختماني امور په عملي بڼه ترآزادې فضاء لاندې صورت نيسي اوپه مستقيم ډول داقليمي شرايطوسره مخ وي چي پدې صورت کې دکار اوپرسونل لپاره مشکلات , دکاري وسايلوتخريبات اوفرسايش اوحتې دفصلي او وقفه يي کارباعث ګرځي , چي پدې ترتيب دساختماني کاروخت زياتيږي او په ساختمان منفي تاثير لري , چې پدې صورت کې پورتنيو ذکر شويوخصوصياتو ته په نه پاملرنه سره مونږ نه شو کولای موثراقتصادي نتايج په لاس راوړو.

# اقتصادي سيستم اودساختماني مؤسساتوداساسي - توليدي فعاليتونوڅانګې

اقتصادي سيستم چي دانسانانو دهڅواوضرورتونواودهغه دتمايلاتواوحرکتونو څخه په يوه ټولنه کې منځ ته راځي اودنومورو ضرورتونو دپوره کولولپاره دهغه په کاروړل ضروري کڼل کيږي بايد په خاصو شرايطوکې دامکان لرونکو اقتصادي اوفني آزمايښتونوپه وړاندې مثبته نتيجه ورکړي .

د ساختماني موسساتو د هر توليدي فعاليت څخه مخکې لدې چي دهغه لپاره توليدي منابع وڅيړل شي لمړی هغه بايد دفني نظره امکان لرونکی وي .

دوهم : کچيرې دفني نظره امکان ولري نوپه دوهم قدم کې سرمايه ګذاري دهغه لپاره بايد وڅيړل شي ترڅو داثابته شي چې دتوليد اونه توليد ارزښت لري او که نه ؟, داځکه چي اوسنۍ تکنالوژي په توليدي سيستم کې په پوره کچه رول لري , .نوددې لپاره چې يوه پروژه آماده کوو لمړی بايد دهغه منابع وڅيړل شي اوورسته دپروژې په انتخاب کې هڅه او دقت وکړو.

اقتصادي سيستم دتوليدي منابعومجموعه ده چې دمعينو کميت لرونکي محصولاتو توليد په برکې نيسي اوپه لاندې شيما کې ښودل شويدی.

نوټ : ديوې جامعې دضرورتونوپه خاطردمحصول دتوليد لپاره دلازمي کاراجراء کولو ته ارزش وايي .
ساختمان دلازمو توليدي منابعو مطابق د هغه سيستم په مرسته صورت نيسي چې په ساختماني پروسو کې د سرمايه گذاری شکل لري.
سرمايه گذاري : سرمايه گذاري پولي وسايل په برکې نيسي چې دنويو ساختماني پروژوپه اعمارولواوهمدارنگه دتوليدي اوغيرتوليدي پروژوپه تکميلولوکې په کاروړل کيږي ياپه بله ژبه :
سرمايه گذاري دساختماني اقتصاد له مخې دتوليداتوهغه څانگه تامينوي چې ديوې معينې دوري په طی کولوسره دکاري منابعو, موادو , ماشين آلاتواونوروکمکي منابعود پيداکولولپاره په توليدي – ساختماني ساحوکې په کاروړل کيږي اوداعمارشوي ساختمان شکل اختياروي .
دتوليدي سطحې دلوړوالي له نقطه نظره سرمايه گذاري يو ضروري امرپيژندل شوېدی اوپه اوسنيوشرايطوکې هيڅ يوه ساختماني موسسه نه شي کولای خپل اقتصادي وضعيت ته دسرمايې په نشتوالې کې مثبت تغيرورکړي .بيا هم په خصوصي ډول په ټيټ سويه موسساتو کې چې په هغه کې مالي او بشري منابع محدودې وي نوپه هغه صورت کې دسرمايي نشتوالی په کلي ډول منفي اغيزې کوي .که چيرې وغواړو نوموړی فکتور په هغه کې له منځه يوسو نو دخصوصي سکتور او نړيوالو کمکونو په جلبولو سره نوموړې فکتور ته ځواب ويلی شوي .
څرنگه چې سرمايه په دوامدار ډول دساختماني پروسې يو انکشافي عامل بلل کيږي او په مطلوبه سطح کې دهغه د ودې يو معياربلل شويدی نوپدې لحاظ دهغه دتامينولو لپاره يوې مطمئنې منبع ته ضرورت شته چې مطمئن ترينه منبع داخلي منبع ده چې دموسسې له پس انداز څخه منځ ته راځي.
يوائينی فکتور چې دسرمايي په موثريت کې رول لري او داهميت وړدی او همدارنگه دصنعتي موسساتو په وړاندې قرار لري داساسي (بنسټيزو) فندونو (کاري وسايل ) څخه معقوله استفاده کول دي , نوموړی فکتور مناسب شرايط تامينوي او دکاري عرضې په وده او مصارفو په کموالي کې مثبت رول لري , مهمه داچې دساختماني کار دوخت په اختصارولو او تمام شوي قيمت په ټيټولو کې ستر رول لري او دمحصولاتو دکمي او کيفي سطحو د ارتقاء سبب گرځي .
نوپدې بنسټ اړينه ده ترڅو په توليدي پروسه کې داساسي فندونو څخه په اعظمي توگه گټه پورته کړو او په خپل وخت ترجاري او اساسي ترميماتو لاندې دهغه ساتنه وکړو .


ددولت
بوديجه
بهرني کمکونه
سرمايه گذاري
بانکي قرضې
معلوماتي منابع
طبيعي منابع
انرژيکي منابع
دکاري قوي منابع
دوراني وسايل
دکاري وسايلومنابع (اساسي فندونه)
ناخالص ساختماني محصولات
دساختماني محصولاتو
تمام شوی قيمت
دساختماني محصولاتوقيمت
فرمايش کوونکي ته دساختماني محصولاتو
تسليم کولوقيمت
دساختماني
مؤسساتوفايده
اقتصادي -تشويقي فند
دساختماني محصولاتو دفايده داری سطح

۲ - دساختماني محصولاتو په وړاندې يو بل مهم او داهميت وړ فکتور دوراني وسائل (دکاري وسائلو منابع) دي چې داجتماعي محصولاتو يوه څانگه تشکيلوي او نورساختماني مواد په برکې نيسي .
ددوراني وسائلو څخه امکان لري په طبيعي او ارزښتي بڼه دتوليدي موادو له ذخيرو څخه استفاده وکړو .
په توليدي پروسه کې د دوراني وسايلو کارول په بنسټيز (دتوليدي نورم مطابق) ډول د موجودو محلي (ځايي موادو) موادو څخه استفاده کول دي .
۳ - کاري قوي (بشري قوي): په مختلفو توليدي – پروسوي ساحاتو کې دبشري قوي منابعو مجموعه ده , او يوازې دانسان انرژې يوه ځانگړې هدف (توليد) ته درسيدو په خاطر بيانوي .
ښکاره ده چې دبشري جامعې کاري قوه حياتي اهميت لري نوپدې لحاظ علماوو نوموړی فکتور دتوليد يوائينی عامل بللی دی .
داقتصاد علماء پدې نظر دي چې کاري قوي هغه وخت زيات مثمر دي چې کار دويش په ډول اجراء شي .
دکارويشنه داده چې دهغه په واسطه يو مرکب کار په مرحله اي او يا جزوي کار وويشل شي او هر شخص په يوائې ډول او يا څو نفري گروپ په گروپي شکل يو مرکب کار پای ته ورسوي .
دبشري قوي څخه دمعقولي استفادې په خاطر کاري قوي بايد د وخت د نورم , استحصالي نورم او توليدي نورم مطابق تنظيم شي .
دکاري قوي ددوامداره ساتلو لپاره دکارکوونکو دمزد (اجورې) تحويلول دي . دکارکوونکو داجورې سيستم دکارکوونکو په درجه , رتبه , دکارويشنه , دوخت نورم , دساختماني کارونو خصوصيات ,اقليمي شرايط او دتوليدشويو محصولاتو په کميت او کيفيت پورې اړه لري .
طبعي منابع دتوليدي محصولاتو د اساسي منبع په حيث پيژندل شويدې او ټول هغه څه چې دځمکې په سره او په يا دځمکې په ژورو برخو کې موقعيت لري ( اوبه , هوا , توليدي مواد او داسې نور ) .
٤ - معدني مواد او دهغه بيلگې :
انرژتيکي منابع دتوليد يو محرک عامل دی او هغه څه چې په دې څانگه کې شامليږي , دسون مواد , انرژي او دهغه ډولونه چې دساختماني محصولاتو په توليدي پروسه کې لويه ونډه لري .
٥ - معلوماتي منابع : دساختماني توليدي فعاليتونو اساس دمعلوماتي منابعو په مرسته تعينيږي او ټول هغه اسناد او مدارک(نقشې , برآوردي اسناد ...) چې دتوليدي- ساختماني موسساتو دمحصولاتو دنورمال فعاليت سبب گرځي په برکې نيسي .
٦ - ساختماني ناخالص محصولات : داجتماعي ناخالصو محصولاتو يوه څانگه ده , دساختماني کارونو عمومي حجم په يوه معينه مرحله (مياشت , دکال يوه ربع ) کې دبرآوردي قيمت مطابق , دتعميراتو او تاسيساتو اساسي ترميمات اوداسې نور په بر کې نيسي .
۷ - دساختماني محصولاتو تمام شوی قيمت :دساختماني محصولاتو دقيمت او مفاد په منځ کې توپير ته دساختماني محصولاتو تمام شوی قيمت وايي .يعنې دساختماني محصولاتو ذاتي ارزښت چې تراوسه په هغه کې مفاد نه وي شامل شوی .
دساختماني محصولاتو قيمت چې دهغه اولي ارزښت ارايه کوي دبرآوردي قيمت په نوم ياديږي .
۸ - تشويقي – اقتصادي فند په مادي او معنوي شکل افاده کيږي اودکارکوونکو د مادي – معنوي تشويق په خاطر دتوليدي موثريت لوړولو په خاطر د دمسکوني منازلو احداث , کلتوري بناگانو اعمارول , صحي کمکونه له لارې تامين کيدای شي .

ددي لپاره چي پوه شو اقتصادي پرمختګ څرنګه وشي او کومه لاره ده چي دهغه په مرسته اقتصادي انکشافاتوته مخه کړو , دابه په وروستيو فصلونو کي ولولو .
داقتصادي پروګرامونو او برنامو عمده او غوره اهداف په دي ډول دي :
۱ – داقتصادي وروسته والي له منځه وړول .
۲ – دملي اقتصاد ټولوبرخوته نمواووده وروکول .
۳ – دټولنی دمادي اوفرهنګي ژوند سطح لوړول چي دافکتورددايمي کاراوتلاش په نتيجه کي منځ ته راځي .

**الف : پلاني بيه (قيمت)**

دپلان مطابق دکار دټاکلوشرايطوپه نظرکي نيولوسره دساختماني محصولاتوبرابرولو ته پلاني بيه وايي , دپلاني قيمت په مرسته دساختماني موسساتوتخنيکي تجهيزات او مواد په مقدماتي ډول تعينولای شو .
ب : برآوردي تمام شوي قيمت : ددقيقو رياضيکي – اقتصادي محاسباتو له رويه دمستقيمو اوغير مستقيمو مصارفو مجموعه ده
ب : حقيقي تمام شوي قيمت:په توليدي پروسه کې دساختماني محصولاتودحقيقي مصارفو مجموعه ده , داقيمت کيداي شي په عملي ډول دپلاني قيمت سره برابرښت ولري او يا دهغه سره په مخالف لوري واقع شي خو په دواړو حالاتوک ي داندېښني خبره نه ده داځکه چي :
۱ – کله چي حقيقي تمام شوي قيمت دپلاني قيمت سره برابرښت ولري نو پدي صورت کي توليدي فعاليت په نورمال حالت کې وي اوکله چې حقيقي تمام شوی قيمت دپلاني تمام شوې قيمت څخه کم شي نوپدې صورت کې دموسساتوتوليدي فعاليت ډيروي او په توليدي پروسوکې کم خرڅي منځ ته راځي .
دساختماني محصولاتوقيمت : دساختماني محصولاتونغدي (پولي ) ارزښت ارايه کوي او دساختماني محصولاتودبرآوردي ارزښت په بڼه دتمام شوي قيمت مجموع ه اودلازمي فايدې اندازه دموسساتو دوروستني فعاليت په پيمانه دربرنيسي .
دتوليدي موسساتو دفعاليتونو له پورتنيو اساسي شاخصونو څخه آخرينی تحليل په لاندې ډول دی :

سرمايه اينبودنه – محصول – نويي سرمايه جوړونه

# دوهم فصل
# اساسي فندونه

## داساسي (بنسټيزو) فندونو اقتصادي ارزښت:

اساسي (بنسټيز) فندونه دکاري وسايلو څخه عبارت دي چې په پولي او فزيکي بڼه ارايه کيږي ,
دنوموړوفندونو عمده خصوصيات چې دهغه مکمل تعريف هم کيداى شي په لاندې ډول دي :
۱ – په توليدي پروسو کې د اساسي (بنسټيزو) فندونو طبيعي شکل تغيرنه کوي لکه کرن , بلدوزر, اکسکواتور اوداسي نور.
۲ – اساسي فندونه په تکراري شکل په توليدي پروسوکې ونډه اخلي .
۳- اساسي فندونه دخرابيدو او فرسايش په اندازه خپل ارزښت په زياتو توليدي پروسو کې په تدريجي شکل توليد شويو محصولاتوته ليږدوي .
اساسي فندونه دمصارفو دکموالي , پروژه وي وخت او بشري قوې دکموالي سبب ګرځي او په دوه ډوله دي , توليدي او غيرتوليدي .

## ۱- توليدي اساسي (بنسټيز) فندونه:

توليدي اساسي فندونه په توليدي پروسوکې په مستقيم او کمکي ډول برخه اخلي . لدې جملي څخه هغه توليدي اساسي فندونه چې په توليدي پروسو کې په مستقيم ډول برخه اخلي په لاندې ډول دي :
ودانيز (ساختماني ) ماشين آلات , ترانسپورتي وسايل , افزارآلات (واړه کاري وسايل لکه بيل , کلنګ , کراچی ...) او داسي نور.
اوهغه چې په کمکي ډول برخه اخلي لکه : ودانيز عناصر او ديتايلونه اوداسي نور.
توليدي اساسي فندونه په خپل نوبت سره په توليدي پروسو کې دهغه دبرخه اخيستنې درجې ته په فعالو توليدي اساسي او غيرفعالو توليدي اساسي فندونو ويشل کيږي .

## ۱- فعال توليدي اساسي فندونه:

هغه کاري وسايل چې په ودانيزو (ساختماني) توليدي پروسو او امورو کې په مستقيم ډول برخه اخلي دفعال توليدي اساسي فندونو له جملې څخه شميرل کيږي لکه ودانيز ماشينونه , ترانسپورتي وسايل او داسې نور.

## ۲- غيرفعال توليدي اساسي فندونه:

هغه فندونو ته وايي چې په توليدي پروسو کې په کمکي يا فرعي شکل برخه اخلي لکه موقتي تعميرات اوتاسيسات , تحويل خانې , ګدامونه , کانتينرونه , کانيکسونه , ګرځنده واګونونه اوداسي نور .
ديادولو وړده چې داساسي فندونوفعاله برخه ٦٥ په سلو کې او غيرفعاله برخه ۳۵ په سلوکې په توليدي پروسوکې برخه لري .

## ۲ – غيرتوليدي اساسي فندونه :

لکه څرنګه چې دنوموړو فندونو له نوم څخه څرګنديږي غيرفعال توليدي اساسي فندونه په توليدي پروسو کې فعاليت نه لري ولې دهغه شتون ضروري دی لکه داوسيدواطاقونه , مکتبونه اومدرسې , شفاخانې او جماعتونه , سپورتي صالونونه او کلوپونه , ورکتونونه او داسې نور...

### دتولیدي اساسي فندونو صنف بندي:

تولیدي اساسي فندونه دهغه دفعالیت له مخې په لاندې گروپونو ویشل کیږي :
الف : صنعتي –تولیدي ودانۍ لکه : فابریکه اي تعمیرات , ورکشافونه , ذخیرې اوداسې نور...
ب : ودانیزماشین آلات لکه : کرن , بلدوزر , اکسکواتوراوداسې نور...
ج : اوبېیز , هوایي اوځمکني ترانسپورتي وسایل .
د : خطي (وصل کوونکي ) تاسیسات : پل , د اوسپنې پټلۍ , اصلي اوفرعي سرکونه اولارې...
ه : میکانیزه او اغیزناک افزارآلات ( هغه افزارآلات چې دګټې اخستنې عمر یې لږ تر لږه یو کال وي ) لکه : بېل , کلنگ , زنبېل , کراچۍ , انبور, پلاس , اره او داسې نور وسایل .

### داساسي فندونو دارزیابۍ لارې اوطریقې :

اساسي فندونه کولای شو په لاندې څلورو طریقو سره ارزیابي کړو:
الف : په اولني ارزښت سره : اساسي فندونه په هغه ارزښت کوم چې په لمړۍ ورځ اخستل شوی وي.
ب : په نوي اوعصري ارزښت سره : داساسي فندونو لمړنۍ قیمت دنوي اوعصري قیمت په پرتله ارزیابي کول .
ج : دخرابۍ اوهلاکت داندازې وضع اولیرې کول .
د : دخرابۍ اوهلاکت داندازې نه وضع کول .
دیادولو وړده چې داساسي فندونواولنۍ ارزښت تامیني , انتقالي –ترانسپورتي , مونتاژ-دیمونتاژ مصارف په برکې نیسي .

## داساسي فندونوفرسایش اودهغه ترمیمات

په تولیدي پروسوکې اساسي فندونو ته دخرابۍ اوزوړوالي په وجه دضرورونو او ضایعاتو رسیدل چې دوخت په تیریدو سره صورت نیسي داساسي فندونو دفرسایش په نوم یادیږي .
یاپه بله ژبه :
په یوه معین وخت کې داساسي فندونو څخه دګټې اخیستنې او دهغه دموثریت کمیدو ته فرسایش وایي .
نولدې کبله اساسي فندونه په تولیدي پروسو کې دبرخه اخستنې په نظر کې نیولو سره په معین وخت کې دفرسایش سره مخامخ کیږي او دهغه دارزښت څخه دوخت په تیریدو سره کمیږي چې همدې عملیې ته فرسایش وایي او په دوه شکله دی :

الف : فزیکي .
ب : معنوي .
داساسي فندونو څخه دکار اخستنې په نتیجه کې دهغه دارزښت کمیدلو ته فزیکي فرسایش وایي او په لاندې عواملو پورې اړه لري :
۱ –داساسي فندونو په کار اچولو حالت او شدت .
۲ –دفني پرسونل دمهارت او تخصص سطح نظردفندونو استعمال ته :
۳ –اساسي فندونه په ساختماني اموراتو کې دملي اقتصاد د نوروڅانگو په پرتله د فزیکي فرسایش سره زیات مخامخ کیږي , ځکه ټول ماشین آلات او ساختماني تجهیزات ترآزادې فضاء لاندې په کار گمارل کیږي (دساختمان تخنیکي او اقتصادي خصوصیاتو ته مراجعه وکړي).

داساسي فندونو دفزيکي فرسايش سطح معمولا" دلاندې رابطې په مرسته ارايه کوي .

$$Cr_p = \frac{C_n - C_0}{C_n} \cdot 100\% \quad .......................................... (1)$$

په پورته رابطه کې :
$Cr_p$ - دفزيکي فرسايش سطحه
$C_n$ - اولنۍ ارزښت
$C_0$ - پاتې ارزښت
ببلګه :
په يوه ساختماني پروسه کې ديوه اساسي فند اولنۍ ارزښت 2500000 افغانۍ دی او دهغه دپايښت وخت لس کاله دی (کلنۍ استهلاک يي 50000 افغانۍ دی ) نوپدې صورت کې دهغه فزيکي فرسايش وروسته دشپږو کالو مودې څخه ومومئ ؟
حل :

$C_n = 500000 \quad Af$

$C_0 = 200000 \quad Af$

$$Cr_p = \frac{500000-200000}{500000} \cdot 100\% = 60\%$$

ببلګه : کچيرې ديوه اساسي فندلمړنۍ ارزښت ۲۵۰۰۰۰۰ افغانۍ وي اودهغه دپايښت موده لس کاله تعين شوې وي (کلنۍ استهلاک يي ۲۵۰۰۰۰ افغانۍ وي ) نوپدې صورت کې وروسته له شپږو کالو دهغه فزيکي فرسايش پيداکړی ؟
حل : راکړل شوي ارقام په لاندې ډول دي :

$A_Г = 250000 \quad Af$

$T_э = 10$ years

$\phi_u = 6$ years

داساسي فند فرسايشي ارزښت په لاندې ډول پيداکوو :

$C_u = A_Г \cdot T_э = 250000 \cdot 6 = 1500000 \quad Af$

$C_0 = C_n - C_u = 2500000 - 1500000 = 1000000 \quad Af$

نوپه پای کې لروچې :

$$\phi_u = \frac{2500000-1000000}{2500000} \cdot 100\% = 60\%$$

**معنوي فرسايش :**
دتخنيکي خستګۍ په وجه داساسي فندونو دارزښت کميدو ته معنوي فرسايش وايي يا په بله ژبه : دوخت په تيريدو سره داساسي فندونو دتوليدي قدرت کميدو او يا دهغه داقتصادي موثريت له منځه تللو پروسې ته معنوي فرسايش وايي .
دیادولو وړده چې هرډول اساسي فند (که په توليدي پروسه کې برخه هم وانه خلي) دوخت په تيريدو سره د معنوي فرسايش سره مخ کيږي يعني اوسنۍ مدرن او اتوماتيک تخنيک دمخکيني تخنيک په پرتله زيات توليدي قدرت لري .

دمعنوي فرسایش سطح دلاندې رابطې په مرسته پیداکوو:

$$M_0 = \frac{CM_0 - CM_r}{CM_0} \cdot 100\% \quad ..............................(2)$$

په پورته رابطه کې:

$CM_0$ - دعصري اونویو ماشین آلاتو اوتجهیزاتو ارزښت (افغانۍ)

$CM_r$ - دپخوانیوتجهیزاتو نوی ارزښت (افغانۍ)

بېلګه:

دیوه عصري او نوي (مدرن) ماشین ارزښت 160000 افغانۍ دی اودهغه نوی ارزښت 140000 افغانۍ دی دهغه معنوي فرسایش محاسبه کړی؟

حل: له فورمول څخه ګټه اخلو او لروچې:

$$M_0 = \frac{CM_0 - CM_r}{CM_0} \cdot 100\% \quad \Rightarrow \quad \frac{180000 - 140000}{180000} \cdot 100\% \; = \; 22{,}22\%$$

ددې لپاره چې د اساسي فندونو دفرسایش اوتخریباتوڅخه مخنیوی شوی وي نولازمه ده چې دهغه دمخنیوي پخاطر لازم اقدامات وشي اوهغه په خپل وخت تر ترمیماتو لاندې ونیسو.

## داساسي فندونو ترمیمات:

ترمیمات دهغه تدابیرو او کاري لارو څخه عبارت دي چې دتخنیکي خدمتونو په بناء کاري وسایل دفرسایش څخه ژغورل کیږي.

ترمیمات په دوه ګروپو ویشل کیږي:

### ۱ – جاري ترمیمات:

جاري ترمیمات معمولا" په لنډ وخت (په میاشت او یا دکال په څلورمه حیصه کې یوځل) صورت نیسي.

### ۲ – اساسي ترمیمات:

اساسي ترمیمات لږ تر لږه د دریو میاشتوڅخه تر اووه کالو پورې یو ځل صورت نیسي یعني دیوه ماشین خرابه اودکار څخه لویدله مکمله حیصه بدلیږي او یا هم مکمل ماشین مدرنیزه او میکانیزه کیږي.

تجربو داښودلې ده چې تخنیکي خدمتونه اوترمیمات ماشین آلاتو او میکانیزمونو د ګټې اخستنې ښه شرایط او عمر زیاتولو برابروالی رامنځ ته کوي.

بیلګې:

۱ - کچیرې دساختماني ماشین آلاتولمړنی ارزښت ۱۰۰۰۰۰۰ افغانۍ وي اودهغه دپایښت مجموعي وخت ۵ کاله تعین شوی وي (کلنی استهلاک یې ۲۰۰۰۰۰ افغانۍ وي) نوپدې صورت کې دهغه فزیکي فرسایش د دری کلو ګټې اخستنې وروسته ومومی؟

حل:

$C_n = 1000000 \quad Af$

$A_\Gamma = 200000 \quad Af$

$T_э = 3$ years

$\phi_u = ?$

$C_0 = C_n - C_u = 1000000 - 600000 = 400000 \quad Af$

$C_u = A_Г \cdot T_э = 200000 \cdot 3 = 600000 \quad Af$

$$\phi_u = \frac{C_n - C_0}{C_n} \cdot 100\% = \frac{1000000-400000}{1000000} \cdot 100\% = 60\%$$

۲- کچیرې ددوه پایوماشین آلاتو لمړنۍ ارزښت په ترتیب سره 1,6 او 2,6 میلیونه افغانۍ وي اودهغه دواړوماشین آلاتو مجموعي پاینبت ۸ او ۱۰ کاله تعین شوی وي (دهریوه ماشین استهلاک 0,2 او 0,24 میلیون افغانۍ وي) نوپدې صورت کې ددواړو ماشین آلاتو فزیکي فرسایش وروسته له شپږو کالو مودې پیدا کړی؟

$C_{n1} = 1,6 \cdot 10^6 \quad Af$

$C_{n2} = 2,6 \cdot 10^6 \quad Af$

$A_{Г1} = 0,20 \cdot 10^6 \quad Af$

$A_{Г2} = 0,240 \cdot 10^6 \quad Af$

$T_э = 6$ years

$\phi_{u1} = ? \quad , \quad \phi_{u2} = ?$

$C_0 = C_n - C_u = 1000000 - 600000 = 400000 \quad Af$

$C_u = A_Г \cdot T_э = 200000 \cdot 3 = 600000 \quad Af$

$$\phi_u = \frac{C_n - C_0}{C_n} \cdot 100\% = \frac{1000000-400000}{1000000} \cdot 100\% = 60\%$$

۳ – کچیرې دیوه اساسي فند لمړنۍ ارزښت ۹۸۰۰۰۰ افغانۍ اوکلنۍ استهلاک یې ۷۰۰۰۰۰ افغانۍ اودفند دپاینبت موده ۸ کاله تعین شوې وي دهغه فزیکي فرسایش محاسبه کړی ؟

$C_n = 9800000 \quad Af$

$AГ = 700000 \quad Af \quad , \quad T_э = 8$ years $, \quad \phi_u = ?$

٤ – کچیرې په یوه ساختماني موسسه کې دیوه زاړه برجي کرن چې د هغه ارزښت 1,43 امیلیونه افغانۍ دی یوه پایه نوی کرن چې 1,65 میلونه افغانې ارزښت لري واخستل شي نوپدې صورت کې دوراسته کرن معنوي فرسایش پیدا کړی؟

٥ – کچیرې په یوه ساختماني موسسه کې دنویو او عصري تجهیزاتو ارزښت په دوه نیم میلیون افغانۍ وي اودهغه زوړ ارزښت په 1,8 میلیون افغانۍ وي نوپدې صورت کې دهغه معنوي فرسایش پیدا کړی؟

حل :

$CM_0 = 2,5 \cdot 10^6 \quad AF$

$CM_y = 1,8 \cdot 10^6 \quad AF$

$M_u = ?$

$$M_0 = \frac{CM_0 - CM_r}{CM_0} \cdot 100\% \quad \Rightarrow \quad \frac{2500000 - 1800000}{2500000} \cdot 100\% = 28\%$$

# داساسي فندونو استهلاک

داساسي او بنستېزو فندونو استهلاک دهغه داساسي فندونو دفرسايش جبران کول په داسې حال کې چې :
داساسي فندونو تدريجي ارزښت نقلول دتوليد شويو محصولاتو ارزښت ته په دقيق شکل سره صورت ونيسي داساسي فندونو د استهلاک په نوم سره يادېږي .
دفندونو دفرسايش جبران کول دتوليد شويو محصولاتودخرڅولو اوتسليمولو په نتيجه کې صورت نيسي او هم دامکان په صورت کې د پولي وسايلو تدريجي ذخيره دهغه استهلاکي ذخيري ته ميسرکيږي چي په نتيجه کي دفرسايش څخه وروسته کولای شو د ذخيره شويو مبالغو په واسطه نور نوي تجهيزات توليدي موسساتو ته ور په برخه کړو .
دموضوع دلا روښانتيا لپاره بايد زياته کړو چې دحساب داری او محاسبې په سيستم کې استهلاک دپولي وسايلو تدريجي ذخيره افاده کوي چې په ترڅ کې داساسي فندونوګټور فعاليت منځ ته راځي .
داستهلاکي وضعيت ټول مبالغ په پوره کاري وخت کې دلاندې رابطې په مرسته صورت نيسي :

$$A_0 = C_n + C_p + C_M - C_l \text{....................................}(3)$$

په پورته رابطه کې :

$C_l$ - داساسي فندونو لمړنۍ ارزښت په افغانۍ .
$C_p$ - داساسي فندونو ترميماتي ارزښت په افغانۍ .
$C_M$ - داساسي فندونو دمدرنيزه کولو ارزښت په افغانۍ .
$C_n$ - داساسي فندونو انحلالي ارزښت په افغانۍ .

## انحلالي ارزښت :

داساسي فندونو منحل کولو ته دهغه انحلالي ارزښت وايي . يا د کاري وسايلو د مصرف شوي او استفاده شوي ارزښت اندازه دانحلالي ارزښت په نوم يادېږي .
دیادولو وړده چې داساسي فندونو دکلني استهلاک وضعيت دمحصولاتو په تمام شوي قيمت کې شامليږي , نوپدې ترتيب داساسي فندونوداستهلاکي وضعيت نورم دتوليد شويو محصولاتو په تمام شوي قيمت کې شامليږي او دلاندې رابطې په واسطه پيداکيږي :

$$H_{\Gamma \cdot a} = \frac{A_0}{C_{n \cdot T}} \cdot 100\% \text{....................................}(4)$$

لکه څرنګه چې داساسي فندونو عناصر داستهلاک په نتيجه کې په مکمل ډول عوض کيږي او ياهم تراساسي ترميماتو لاندی نيول کيږي , نو په دې بنسټ دنوي کولو او يا اساسي ترميماتو مصارف داستهلاک له انبارکولو څخه تامين کيدای شي .نوپدې صورت کې داساسي فندونو دمکمل بدلولو اونوي کولو استهلاکي نورم دلاندې رابطې په مرسته سره پيداکيږي :

$$H_{\Pi \cdot B} = \frac{C_n + C_L}{C_{c \cdot T}} \cdot 100\% \text{....................................}(5)$$

په همدې ډول داساسي فندونو داساسي ترميماتو او مدرنيزه کولو استهلاکي نورم دلاندې رابطې په مرسته پيداکيږي :

$$H_{R\cdot P} = \frac{C_p + C_M}{C_{c\cdot T}} \cdot 100\% ......................................(6)$$

ديادولو وړ ده چې په ساختماني موسساتو کې داساسي فندونو دمکمل نوي کولو استهلاکي نورم ٦٠ سلنه او داساسي ترميماتونورم ٤٠ سلنه قبول شويده .

## داساسي فندونو څخه دمؤثرې استفادې شاخصونه :

په توليدي پروسه کې داساسي فندونو څخه دموثرې استفادې سطح دعمومي (ارزښتي) او اختصاصي (فزيکي) شاخصونو په ارزيابي کولوسره تعين کيږي .

ارزښتي شاخصې داساسي فندونو دمجموعي استفادې په نتيجه کې اوفزيکي شاخصه دهغه دجداګانه عناصرو څخه داستفادې په نتيجه کې ارزيابي کيږي .

### ۱ – داساسي فندونوڅخه دمؤثرې استفادې عمومي شاخصې عبارت دي له :

الف : دخالصومحصولاتو په نظر کې نيولوسره داساسي فندونو داقتصادي موثريت ضريب :

$$\text{Э}_{\iota\cdot P} = \frac{D}{C_{ap}} ..................af..................(7)$$

په پورته رابطه کې :

D - په کال کې دخالصو محصولاتو ارزښت (افغانۍ) اودلاندې رابطې په مرسته پيداکيږي :

$$D = \sum V_{B.\Pi} - \sum V_{Z.M} ......................(8)$$

په پورته رابطه کې :

$\sum V_{B.\Pi}$ - ناخالص ساختماني محصولات په افغانۍ سره .

$\sum V_{Z.M}$ - په ساختماني کې مادي مصارف په افغانۍ سره.

$C_{ap}$ - داساسي فندونوکلنۍ منځنۍ ارزښت په افغانۍ سره.

ب : داساسي فندونو دفايده دارۍ سطح :

$$Y_p = \frac{\Pi}{C_c} \cdot 100\% \quad \text{or} \quad Y_p = \frac{\Pi}{C_{o\Phi}} \cdot 100\% \quad \text{or} \quad Y_p = \frac{\Pi}{C_{C.M}} \cdot 100\%$$

په پورته رابطوکې :

$\Pi$ - دساختماني موسسې مفاد (فايده) .

$C_c$ - تمام شوی قيمت (ذاتي ارزښت).

ج : داساسي فندونوبازدهي (عرضه کول) :

$$\Phi_{cm} = \frac{C_{o.M}}{C_{OP}} ..................................(9)$$

## ۲ - داساسي فندونو اختصاصي (فزيکي ) شاخصه (داساسي فندونو دجداګانه عناصرو څخه استفاده کول)

**الف** : داکستېنسيف – ي ضريب (دتقويمي وختونو څخه داستفادې ضريب ):

$$K_э = \frac{T_{Фak}}{T_{K.b}} \quad , \quad T_{K.b} = [365 - (T_{real} + T_{holidays})t] \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots(10)$$

په پورته رابطه کې :

$T_{holidays}$ - په کال کې عيادي او رخصتي ورځې .

$T_{real}$ - ديوه کال حقيقي ورځې .

$T_{K.b}$ - دکليزې مطابق وخت .

**ب** : انتينسيف – ي ضريب (دماشين آلاتواوميکانيزمونو شدت بخښنه اوثمره ):

نوموړی ضريب دلاندې رابطې په مرسته تعين کيږي .

$$K_u = \frac{V_{Фok}}{V_{HOP}} \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots(11)$$

په پورته رابطه کې :

$V_{Фok}$ - دماشين په واسطه په واحد دوخت کې حقيقي توليد ( مترمکعب ).

$V_{HOP}$ - په واحد دوخت کې توليدي نورم (مترمکعب).

داساسي فندونوڅخه دبهتره ګټې اخستنې لاره چې داقتصادي موثريت له مهمو عواملو څخه شمېرل کيږي لاندې نقاط تشکيلوي .

- دساختماني مؤسساتو په توليدي فعاليت کې دکارعملي تنظيم کول .
- په ساختمان کې دپرمختللي علم اوتکنالوژی دمنظم اسلوب په کاروړول .
- دکارکوونکو دتخصص سطح او دهغه توليدي فعاليتونو ارتقاء.
- دتوليدي سيستم ميکانيزه اواتوماتيزه کول .
- په ساختماني اموراتو کې دنوبتي سازماندهی عملي کول .
- دترانسپورتي اموراتو اختصارول .
- دتخنيکي امورو او لازمو خدماتي - بهداشتي تدابيرو ټينګول .

**بيلګې** :

۱ – کچيرې داساسي فندونو ارزښت 19,36 ميليون افغانۍ وي , او دناخالصو محصولاتو ارزښت 28,46 افغانۍ وي په هغه صورت کې چې مادي مصارف 21,64 ميليون افغانۍ وي داساسي فندونو اقتصادي موثريت نظرخالصو محصولاتوته محاسبه کړی ؟

**حل** :راکړل شوي ارقام دادي :

$C_{op} = 19,36 \cdot 10^6 \quad m \ \ afgahni$

$V_{ВП} = 28,46 \cdot 10^6 \quad m \ \ afgahni$

$C_{ЗМ} = 21,64 \cdot 10^6 \quad m \ \ afgahni$

$Э_{Г\varphi} = ?$

لدې ځایه لرو چې :

$$D = \sum V_{B.\Pi} - \sum V_{Z.M} \Rightarrow 28,46 - 21,64 = 6,82$$

$$Э_{t.P} = \frac{D}{C_{op}} \cdot 100\% \Rightarrow \frac{6,82}{19,36} \cdot 100\% = 35,23\%$$

۲ – کچېرې دیوی ساختماني مؤسسې کلنۍ مفاد 2,07 میلیون افغانۍ وي , دهغه داساسي فندونو کلنۍ متوسط ارزښت 6,65 میلیون افغانۍ وي او د ساختماني کارونو کلنۍ برآوردي ارزښت 9,78 میلیون افغانۍ وي نوپدې صورت کې داساسي فندونو دبازدهی او فایده داری سطح معلومه کړی ؟

حل :

$$\Pi = 2,07 \cdot 10^6 \quad m\ \ afgahni \qquad C_{CM} = 9,78\ m\ \ afgahni$$

$$C_{o\varphi} = 6,65 \cdot 10^6 \quad m\ \ afgahni \qquad y_p = ? \quad \Phi_{om} = ?$$

لدې ځایه لرو چې :

$$y_p = \frac{\Pi}{C_{o\Phi}} \cdot 100\% = \frac{2,07}{6,65} \cdot 100\% = 31,13\%$$

$$\Phi_{om} = \frac{C_{CM}}{C_{o\Phi}} = \frac{9,78}{6,65} = 1,47$$

۳ – کچېرې په یوه ساختماني پروسه کې کلنۍ مفاد په ترتیب سره 1,93 او 1,36 میلیون افغانۍ وي اودهغه داساسي فندونو کلنۍ متوسط ارزښت په ترتیب سره 8,47 او 7,84 افغانۍ وي نوپدې صورت کې دفایده داری موثرترینه سطح په نومورې ساختماني مؤسسه کې محاسبه کړی ؟

حل :

$$\Pi_1 = 1,93 \cdot 10^6 \quad m\ \ afgahni \qquad \Pi_2 = 1,36 \quad m\ \ afgahni$$

$$C_{o\varphi 1} = 8,47 \cdot 10^6 \quad m\ \ afgahni \qquad C_{o\varphi 2} = 7,84 \cdot 10^6 \quad m\ \ afgahni$$

$$y_{p1} = ? \qquad y_{p2} = ?$$

نولدې ځایه په لاس راځي چې :

$$y_{p1} = \frac{\Pi_1}{C_{o\Phi 1}} \cdot 100\% = \frac{1,93}{8,47} \cdot 100\% = 23\%$$

$$y_{p2} = \frac{\Pi_2}{C_{o\Phi 2}} \cdot 100\% = \frac{1,36}{7,84} \cdot 100\% = 17,3\% \qquad \text{then} \qquad y_{p1} > y_{p2}$$

٤ – کچېرې په یوه ساختماني پروژه کې دکارکوونکو حقیقي وخت ٦ ساعته , د بلدوزر ٧ ساعته او اکسکواتور ٥ ساعته په یوه ورځ کې ولري , مګردورځني کار تقویمي وخت دهریوه لپاره ٨ ساعته وي نوپدې صورت کې دهغه اکستنسیفي ضریب ومومی ؟

حل :

$$T_{\Phi ak1} = 6Hour \quad T_{\Phi ak2} = 7Hour \quad T_{\Phi ak3} = 5Hour \quad T_{k \cdot b} = 8Hour$$

$$K_{э1} = ? \quad K_{э2} = ? \quad K_{э3} = ?$$

لدې ځایه په لاس راځي چې :

$$K_{э1} = \frac{T_{\Phi ak1}}{T_{k \cdot b}} \Rightarrow \frac{6}{8} = 0,75 \qquad K_{э2} = \frac{T_{\Phi ak2}}{T_{k \cdot b}} \Rightarrow \frac{7}{8} = 0,875 \qquad K_{э3} = \frac{T_{\Phi ak3}}{T_{k \cdot b}} \Rightarrow \frac{5}{8} = 0,625$$

۵ – کچېرې په یوه ساختماني پروسه کې ددوه پایو ساختماني ماشین آلاتو په واسطه حقیقي تولید په ترتیب سره ۵۰ او ۵۵ مترکعب وي , کچېرې دیوه ټیم په واسطه دورځې ۸ ساعته کار اجراء شي او دهریوه ماشین تولیدي نورم ۶۰ او ۶۲ مترمکعب وي نو پدې صورت کې انتینسیفي ضریب پیدا کړی ؟

**حل :**

$V_{\Phi ak1} = 50m^3 \quad V_{\Phi ak2} = 55m^3 \quad V_{Hop1} = 60m^3 \quad V_{Hop2} = 62m^3$

$K_{u1} = ? \quad K_{u2} = ?$

لدې ځایه لرو چې :

$$K_{u1} = \frac{V_{\Phi ak1}}{V_{Hop1}} \Rightarrow \frac{50}{60} = 0,83 \qquad K_{u1} = \frac{V_{\Phi ak1}}{V_{Hop1}} \Rightarrow \frac{55}{62} = 0,887$$

۶ – کچېرې په یوه ساختماني مؤسسه کې د هستوګنځي منازلو داعمارولو لپاره دوه پایي ماشین آلات چې دهغه استهلاکي وضعیت په ترتیب سره 1,6 او 1,5 میلیون افغانۍ وي , کچېرې دنوموړو ماشین آلاتو لمړنۍ ارزښت په ترتیب سره 1,6 او 1,4 میلیون افغانۍ وي اوددواړو ماشین آلاتو مجموعي کار ۱۵ او ۱۳ کاله وي او دنوموړو ماشین آلاتو دبهره دهۍ (پاینښت ) وخت ۱۰ او ۱۱ کاله وي نو پدې صورت کې دهر ماشین داستهلاکي نورم وضعیت اوکلني استهلاک اندازه وټاکۍ ؟

نوټ : دنوموړې بیلګې حل ګرانو محصلینو ته پرېږدو .

# دریم فصل

## دوراني وسائل (فندونه )

### دساختماني موسساتو دوراني وسائل :

دساختماني محصولاتو دتولید لپاره اساسي فندونه په یواځي توګه کافي نه دي , نوپدې موخه ددوراني فندونو دمعین کمیت څخه لازمه استفاده چې دتولیدي پروسو عمده او بنستیز جزء ګڼل کیږي ضروري دي .

دوراني وسائل دکاري محمول څخه عبارت دي چې په طبعي اوارزښتي بڼه افاده کیږي یا په بله ژبه: د سون مواد , خام مواد اونور داسې دضرورت وړ مواد تولیدي محصولات په برکې نیسي .

### ددوراني وسائلو خصوصیات :

دوراني وسائل لاندې خصوصیات لري :

۱ – په تولیدي پروسو کې ددوراني وسائلو طبیعي شکل تغیرکوي .

۲- دوراني وسائل یواځې اویواځې په یوه تولیدي دوره کې برخه اخلي .

۳ –د دوراني محصولاتو ارزښت په کامل ډول په یوه تولیدي پروسه کې دتولید شویو محصولاتو ارزښت ته نقلیږي .

دوراني وسائل لاندې درې مرحلې په برکې نیسي :

پولي (نغدي ) مرحله – تولیدي مرحله – نوي پولي مرحله

په لمړۍ مرحله کې دساختماني پروژې ضروري مواد اخستل کيږي .
په دوهمه مرحله کې ټول مواد , ديتايلونه او عناصر په ساختماني توليد شويو محصولاتو بدليږي
په دريمه مرحله کې تکميل شوي مواد فرمايش کوونکي ته تسليم کيږي .
فرمايش کوونکې ته دپروژې تسليمولو په خاطر هغه مبالغ چې په لاس راځي په دوهم ځل ساختماني عناصر اوديتايلونه اخستل کيږي او دراتلونکو پروژو توښه له هغه څخه برابريږي چې همدغه لارې ته ددوراني وسائلو دوران وايي .
نوپه همدې بنسټ دوراني وسائل په دوه گروپو ويشل کيږي :
۱ – مؤلده دوراني فندونه (خام مواد, دسون مواد , نيمگړې ساختمانونه , دکاري پروسو لاندې ساختمانونو لپاره جاري او راتلونکې مصارف او داسې نور) .
۲ – دوراني ( گردشي ) فندونه (آزاد نغدي وسائل , توليد شوي ساختماني محصولات ... )
نوټ : آزادې پيسې : هغه دي چې تراوسه په کاري پروسه کې دهغه څخه استفاده نه وي اخستل شوې .

# ددوراني وسايلو صنف بندي

په عملي ډول دوراني وسايل په لاندې گروپونو ويشل کيږي .
۱ – اساسي ساختماني مواد : لکه خښتې , ريگ , سمنټ , جغل , لرگي , چونه , سيخ گول او داسې نور ...
۲ – ساختماني عناصر اوډيټايلونه : زينې , دپوښښ تختې , گادرونه , پانيلونه , دکړکيو او دروازو بلاکونه , بالکونونه اوداسې نور ...
۳ – کم ارزښته توليدي مواد او هغه اداري وسايل : هغه وسايل چې دتوليدي پروسو په پرمختگ کي په کمکي ډول برخه اخلي ( اداري مواد ) .
٤ – کم ارزښته مواد ( نورکمکي مواد ) لکه دسون مواد , روغنيات اوداسې نور ...
٥ - نيمگړي محصولات : دهغه ناتکميل شويو محصولاتو ارزښت چې تراوسه هغه د کاري پروسې لاندې وي اوفرمايش کوونکي ته نور دتسليم کيدو وړ وي .
٦ – دراتلونکي وخت جاري مصارف : په توليدي پروسه کې هغه مصارف په برکې نيسي چې نه يواځې په جاري ودانيو بلکه د راتلونکو ساختمانونو ( دپروژې داخل) سره هم ارتباط ولري .
۷ – دمحاسبې لاندې وسايل : هغه تکميل شوي وسايل چې فرمايش کوونکي ته دتسليميدو په حال کې وي ( فرمايش کوونکي مؤسسې ته دتسليميدو مجموعي مبالغ ) .
۸ – پولي وسايل : دهغه آزادو پيسو څخه عبارت دي چې په مالي فعاليتونو کې شتون ولري چې په دې گروپ دوراني فندونو کې دکارکوونکو اجوره هم شامليږي .
نتيجه :
له پورتنيو گروپونو څخه په ډاگه ښکاريږي چې دوه آخرينۍ ځانگې په گردشي فندونو او نورې شپږ ځانگې په مؤلده دوراني فندپورې اړه لري .

# ددوراني وسايلو څخه دمعقولې اومؤثرې استفادې لارې

هره ساختماني موسسه دخپلو توليدي فعاليتونو دپرمخ بيولو لپاره منظمو دوراني وسايلو ته ضرورت لري مګراچې څه ډول نوموړي وسايل دساختماني پلان او طرحې مطابق دکاري حجمونواومشخصاتوپه برابر مخکې له توليدي پروسې څخه تامين شي , اړينه بريښي ترڅو د دوراني وسايلو څخه دمؤثرې او معقولې استفادې لارې په پام کې ولرو چې نوموړي شاخصې په لاندې صنفو کې مشخص کيږي :

ددوراني وسايلو دفند ظرفيت .

۲ – ددوراني وسايلو ګردشي ضريب.

۳ – ددوراني وسايلودیوی دوری مداومت.

## ۱ – ددوراني وسايلو دفند ظرفيت .

ددوراني وسايلو دکلنيو متوسطو ارز ښتو اوتکميل شويو کارونو دحجم ترمنځ نسبت ته وايي

$$\Phi_{od \cdot avg} = \frac{C_{od \cdot avg}}{V} ............................... (\text{afghani}/\text{afghani})$$

په پورته رابطه کې :

$C_{od \cdot avg}$ - د اساسي فندونو کلنۍ متوسط ارزښت ( افغانۍ)

- V دکلنيوتکميل شويو ساختماني کارونوحجم او دفرمايش کوونکي په واسطه تاديه شوي مبالغ (افغانۍ)

بېلګه :کچېرې په يوه ساختماني پروژه کې ددوراني وسايلو کلنۍ متوسط ارزښت ۱۰۰۰۰۰۰ ميليون افغانۍ وي اوپه يوه کال کې دساختماني تکميل شويو کارونو حجم ۴۰۰۰۰۰۰ ميليون افغانۍ وي نوپدې صورت کې ددوراني وسايلو ظرفيت پيداکړۍ ؟

**حل :**

$$\Phi_{od \cdot avg} = \frac{C_{od \cdot avg}}{V} \Rightarrow \frac{1000000}{4000000} = 0,25\ (\text{afghani}/\text{afghani})$$

له پورتنۍ فرضيي څخه دې نتيجې ته رسيږو چې په هره يوه افغانۍ کې دتکميل شويو کارونو 0,25 افغانۍ ددوراني وسائلو ارزښت شامل دی .نوپدې صورت کې په ساده ډول تحليل کولای شو چې هرڅومره د دوراني وسائلو مصرف دتوليد شويو محصولاتو د هرې يوې افغانۍ په بدل کې کميږي په همغه اندازه د دوراني وسائلو څخه زياته او مؤثره استفاده کيږي .

۲ – ددوراني وسائلوګردشي ضريب : دکلنيوتکميل شويو کارونو او درواني وسائلو دکلني متوسط ارزښت ترمنځ نسبت ته وايي يا په بل عبارت ددوراني فند دظرفيت معکوس نسبت ته وايي ددوراني وسائلوګردشي ضريب وايي .

$$K_{od \cdot avg} = \frac{1}{\varphi_{od \cdot avg}} = \frac{V}{\varphi_{od \cdot avg}} (\text{afghani}/\text{afghani})$$

دلته کولاي شوي ګردشي ضريب داقتصادي مفهوم له مخي په دوه ډوله تحليل کړو :

الف – لمړۍ :دا ضريب بيانوي چې دتوليد شويو محصولاتو دتسليم کولو په نتيجه کې د دوراني وسائلو دهرې افغانۍ په بدل کې څوافغانۍ عايد کيږي .

ب – داضريب ددوراني وسائلود ودې اندازه په يوه کال کې بيانوي .

۳ – ددوراني وسائلو ديوې دورې دعمر شاخصه : .

دتقویمي کال دمداومت نسبت ددوراني وسائلو په ګردشي (ګرځیدونکي) ضریب بیانوي یعنې :

$$t_{od \cdot avg} = \frac{T_{Kb}}{K_{od \cdot cp}} = \frac{365 \cdot C_{od \cdot cp}}{V} \text{.................................}(12)$$

په پورته رابطه کې :

$T_{Kb}$ - دتقویمي کال مداومت (عمر) بیانوي

له پورتنیو توضیحاتو څخه په ډاګه ښکاریږي چې نوموړي درې شاخصونه یو له بل سره متقابلې اړیکي لري نو پس نتیجه اخلو چې ددوراني وسائلوڅخه دبهترینې ګټې اخستنې سره دهغه دیوې دورې دوخت (مداومت) لنډول دي .

د دوراني وسائلو دمداومت داختصارولو ارزښت دصرفه شویو دوراني وسائلو دارزښت سره برابر دی . چې پدې صورت کې دصرفه شویو وسائلو اندازه دلاندې فورمول په مرسته پیداکیږي :

$$\Delta C_{od \cdot avg} = \frac{V}{K_{k \cdot b}}(t - t')\text{.................................}(13)$$

په پورته رابطه کې :

$t$ - او $t'$ - ددوراني وسائلو دیوې دورې منځنۍ مداومت په واحد دوخت کې بیانوي .

دبیلګې په توګه که په پورته بېلګه کې ددوراني وسائلو دیوې دورې مداومت له ۹۰ ورځو څخه یوه ورځ اختصار کړو نوپدې صورت کې ددوراني وسائلو دکم خرڅې اندازه محاسبه کړی ؟

$$\Delta C_{od \cdot avg} = \frac{V}{K_{k \cdot b}}(t - t') \Rightarrow \frac{4000000}{365}(90 - 89) = 10958{,}9 \quad \text{afghani}$$

او کچېرې مداومت د ۵ ورځو په اندازه اختصار کړو نوپدې صورت کې ددوراني وسائلو دکم خرڅې اندازه هم زیاتیږي .

ددوراني وسایلو څخه دمناسبي ګټې اخستنې نورعوامل عبارت دي له :

۱ – دناتکمیل شویو ساختماني محصولاتو دتکمیلولوپاره له شدت څخه کاراخستل

۲ – دمیعاد څخه مخکي یاپه خپل وخت دپروژې تسلیمول

دپورتنیو عواملو په نظرکي نیولو سره لازمه ده لاندې نقاطو ته پوره پاملرنه وکړو :

۱ – تیپیک پروژې اعمارول

۲ – دعناصرواودیتایلونواو موادوپه استفاده کې صرفه جویي کول

۳ – مادي اوتخنیکي تامینیات

۴ – دمحلي موادو او منابعو څخه استفاده کول .

# څلورم فصل

## بشري قوې (دکاري قوې منابع)

### په ساختماني مؤسساتوکې دکاري قوي منابع

**دساختماني مؤسساتو کدرونه :**

کدر دکارکوونکو هغه کلیکتیف (مجموعه) تشکیلوي چې دجداء تخصص لرونکي وي اود یوه مشخص هدف په خاطر په تولیدي –اقتصادي ساحاتوکې فعالیت کوي یا په بله ژبه :

دکارکوونکو هغه اساسي ترکیب چې په ساختماني - تولیدي او غیر تولیدي ساحاتو کې په رهبری او اداره کې د استعداد اوکاري تجربې لرونکي وي اود پلانې طرحې ,سازمان دهی اودپروژو دتطبیق دنده په غاړه لري .

په ساختماني ساحو کې داقتصادي مسائلو دحل اوفصل لاره په کدرونو پورې اړه لري ځکه هره اقتصادي مسئله چې مطرح کیږي دهغه دحل لاره کدرونه ترڅیړنې لاندې نیسي .

نولدې کبله هغه اساسي ټکي چې دکدرونو په موقف پورې اړه لري په لاندې ډول دي :

۱ –دکدرونوروزنه .
۲ –دکدرونودانتخابولو پرنسیب او دهغه ځای په ځای کول .
۳ –په کدرونو سره سیستماتیک او عملي کارکول .
٤ –دکدرونو اړوند اموراتو تنظیم او ترتیب کول .
٥ –دکاري کدرونو د دوامداره کنترول او تنظیمول .

دپورته اصولو اومقرراتو مطابق دکاري مخصوصو اشخاصوڅخه باید په اداري او تولیدي ارګانونو کې کار واخستل شي.

په دې ترتیب کدرونه کولای شي خپل بنسټیز رول په ټولو اقتصادي ساحوکې خاصتا" په ساختماني - تولیدي کارونو کې په ښه ډول سرته ورسوي .

پټه دې پاته نه وي چې دذه کړې مسائل لکه حرفوي آماده ګي , تخنیکي تجربي , علمي او تخنیکي ذده کړې په کدرونو پورې اړه لري .

کدرونه په ساختماني مؤسساتو کې دهغه د موقف په نظر کې نیولو سره په لاندې کتګوریو ویشل شویدي .

- دساختماني مؤسساتوکدرونه : دا ډله په ساختماني - اساسي او کمکي پروسوکې په مستقیم ډول مصروف وي لکه معماران , مونتاژکاران , میخانیک , ماشین کاران , تخنیک کاران او داسې نور ...
- انجنیري –تخنیکي کارمندان : هغه کسان چې دساختماني مؤسساتو سازماندهي او رهبري په غاړه لري او په تخنیکي –تکنالوژیکي امورو کې برخه اخلي لکه انجنیران , سرانجنیران اقتصاد دانان , طراحان اوداسې نور ...
- مستخدمین : په ساختماني مؤسساتوکې دفرعي عملیاتو او خدماتي دستګاوو کې کارکوي لکه محافظین , ملازمین او داسې نور ...

- مامورین یا کارمندان :هغه کسان چې دادراي کارونو دنده په غاړه لري لکه د اداري –مالي څانګې کارکوونکي , محاسیبین , خزانه داران او داسې نور ( داډله کسان دنورو کارکوونکو لپاره اسناد , اداري مواد او نور مدارک ترتیب کوي ) .

دساختماني مؤسساتو ورکدرونه دکاري پروګرامونو او معینو نورمونو څخه تامین کیږي نوپدې ډول دساختماني مؤ سساتو په تشکیل کې دکدرونو کمیت داسې برابروي چې په ټولو تولیدي پروسوکې په منظم ډول بیدون دوقفې څخه او بیدون دپرسونل له کمبودی څخه دکاري پرنسیب مطابق (په کارکوونکودکارمساویانه ویشنه ) مخته تګ وکړي .

دمؤسساتو دکارکوونکو په تشکیل کې دتشکیل داخلي کارکوونکي اوپه دنده ګمارل شوي کسان په نظرکې نیول کیږي ترڅوددې په اساس دکارکوونکو تعداد (په بعضې علتونوسره لکه مریضې , رخصتي , تفریح , خدمتي یا دپروژې پابندي نه کولو په وجه غیرحاضرکسان ) معلوم شي او په هغه سره دتولیدي فعالیتونو لپاره لازم مقدماتي تدابیر ونیول شي ترڅوپه تولیدي ساحاتو کې سکتګي رامنځ ته نه شي .

له کومه ځایه چې وینو دکدرونو تخصص په تولیدي پروسو کې مستقیم تاثیرلري , نوپدې بنسټ په تولیدي پروسوکې دکدرونو تربیه کول اودهغه دتجربې سطح لوړول اوهم په مکاتبوکې تخنیکي او حرفوي ذده کړې دکدرونوپه لاره کې یوبنسټیز اومثبت ګام بلل کیږي .

## په ساختماني امورو کې اجوره اودهغه دتوضیع کولو شکلونه

اجوره (مزد) داجتماعي محصولاتو څخه شمیرل کیږي , چې په پولي شکل افاده کیږي اوداجراء شوي کار دکمیت اوکیفیت مطابق په واحد دوخت کې کارکوونکو ته توضیع کیږي اودهغه دشخصي استفادې وړګرځي

### دمزددتوزیع کولواصول :

مزد دمزد سره دمساوي کارپه وړاندې دسن , جنسیت او ملیت په نظرکې نه نیولوسره توزیع کیږي .

### دمزد توزیع کولو شرائط:

دمزدتوزیع کولو په شرائطوکې دتولید اندازه , دکار دروندوالی , دمحصول کمیت اوکیفیت , دکارکوونکو دتخصص سطح او استعداد سطح په نظرکې نیول کیږي .

پټه دې پاته نه وي چې دهیواد دیوې منطقي کاري مشخصات , دمحل موقعیت , اقلیمي اومسکوني شرایط دکارکوونکو داستخدام په سیستم کې لویه ونډه لري .

په ساختماني مؤسساتوکې دکارکوونکو دمزد اساس اوبنسټ دکارکوونکو درجه , رتبه , دوخت نورم , دکارویشنه , دتولیدصنف بندي , دساختماني کارونومشخصات اودمحصولاتوکمیت اوکیفیت تشکیلوي .

په ساختماني اموروکې دمزد (اجورې) سیستم دلاندې برخوڅخه تشکیل شویدی:

### ❖ دمعاشاتوجدول:

دکارکوونکو دمزد تناسب دهغه دتخصصي سطحې په نظرکې نیولوسره تعینوي اویا په بله ژبه : دکارکوونکومسئولیت دهغه په درجوویشي .

دمعاشاتوجدول له رتبې اودرجې څخه تشکیل شویدی , اوهریوه کارکوونکې ته دمعاشاتودمیزان مطابق په درجه اورتبه معاش تعین کیږي .

❖ دمعاشاتو میزان (برابرښت ) :
دکارکوونکو په وړاندې دمزد مطلق توزیع کول (دهغه رتبې اودرجې مطابق ) په واحد دوخت کې دمعاشاتو دمیزان په مرسته تعین کیږي , نوپدي بنسټ دمعاشاتو میزان باید دکاري شرائطو (دروندوالی , سختي , ضررات اودکارکوونکودتخصص سطح ) ته په کتنه سره په نظرکې ونیول شي .
دهری یوی درجې اویارتبې دمعاشاتو میزان په آخري درجه اویارتبه باندې دمعاشاتودضریب په نوم یادیږي .

❖ دمعاشاتو ضریب :
دمعاشاتوضریب دابیانوي چې دمطلوبې درجې دمعاش میزان دلوړترینې درجې یارتبې په وړاندې ترکومې کچې دی.
یا په بله ژبه : له یوې درجې څخه بلې درجې ته لوړېدل په کومه اندازه دمعاش دلوړولو سبب ګرځي.
تخصصي رهنما :دکارکوونکودمهارت اوتخصص سطح دهغوی درجه اویارتبه تعینوي .
یاپه بله ژبه : تخصصي رهنما دکارکوونکو دتقسیم بندی (ویشنې) په لحاظ په نظرکې نیول کیږي اودمزد دمعین حجم توزیع کول دکاري شرائطوپه نظرکې نیولو سره مشخص کوي .
تخصصي رهنمادکاري تشریحاتو (تولیدي مشخصاتو) لرونکې ده چې دکارکوونکو درتبو او درجو په برابر دهغوی دتجربې اوتولیدي مهارت اودکاري سختوالي ( په کیفیت سره دکار اجراءکول) په بنسټ تعینیږي.

# په ساختماني اموروکې دمزد(اجورې) توزیع کولو سیستمونه

په ساختماني اموروکې دنورو صنعتي- اقتصادي څانګو په څیر دمزد توزیع کولو دوه شکلونه موجوددي :
الف : ګاه مزد(دکاري وخت مصرفولو په حساب).
ب : کارمزد(دکاري کمیت په حساب).
ګاه مزد هغه وخت مؤ ثرواقع کیږي چې دتولیدي نورم تعینول په واحد دوخت کې ستونزمن وي ,
ګاه مزد په خپل نوبت سره په لاندې ګروپوویشل کیږي :
۱ – مستقیم ګاه مزد سیستم : په نوموړې سیستم کې دکاري مصرف شوې وخت په اساس او یا هم د معاشاتو دجدول په اساس مزد توزیع کیږي , په نوموړې سیستم سره دمزد (معاشاتو) توزیع کول دکاري محصول په کمیت پورې اړه نه لري اودلاندې رابطې په مرسته محاسبه کیږي :

$S_t = T_s \cdot n$.................................(14)

په پورته رابطه کې :
$T_s$ - دورځنیو معاشاتو میزان .
n - دتکمیل شویو کاري ورځو شمیر.
۲ – تشویقي ګاه مزد سیستم :پدې سیستم سره کارکوونکې دتولیدي مؤثرو لاسته راوړنو په وجه خپل مکافات په تشویقي شکل په لاس راوړي اودلاندې فورمول په مرسته صورت نیسي :

$S_t = T_s \cdot n + m$.................................(15)

په پورته رابطه کې :
m - دمستقیم ګاه مزد دفیصدی له رویه دتشویقي مزد اندازه ده .

ب - کارمزد :
کارمزد د اقتصادي پلوه ډیر مناسب او مؤثر شمیرل کیږي او د تولیدي محصول په کمیت او کیفیت پورې اړه لري .
په نوموړي سیستم کې د مزد ورکول د نورم بندی , د کاري معیار تعینول او د حقیقي محصول د تولید په اساس معاشونه توزیع کیږي .
کار مزد کیدای شي په دسته جمعي (کلیکتیفي) یا انفرادي شکل توزیع شي . یعنې کچیرې د هریوه کارکوونکي د نتائجو محاسبه په انفرادي او جداء شکل امکان ولري نو په دې صورت کې کارمزد په فردي بڼه او بیدون لدې په کلیکتیفي شکل توزیع کیږي .
کارمزد هم دګاه مزد په بڼه په دوه ګروپونو ویشل کیږي :
۱ – **مستقیم کارمزد سیستم** : دمعینو اجراء شویو کارونو د کمیت په اساس صورت نیسي , پداسې حال کې چې د نورم بندی او کاري معیار تعینول امکان ولري نو په دې صورت کې د مزد توزیع کولو لپاره ضروري ده ترڅو په تولید شویو ساختماني محصولاتو کې نرخ نامه موجوده وي .
د مستقیم کارمزد په سیستم کې د معاشاتو (مزد) اندازه دلاندې رابطې په مرسته پیداکیږي :

$$S_w = V \cdot P \text{..................................}(16)$$

په پورته رابطه کې :
V - دورځنیو تولید شویو محصولاتو حجم په $Af/m$ , $Af/m^2$ , $Af/m^3$
P - د تولید شویو او یا اجراء شویو کاري واحداتو نرخ نامه .
۲ – **تشویقي کارمزد سیستم** : د تولیدي مؤثرو لاسته راوړنو په ترڅ کې د کارمزد یوڅه فیصدي توزیع کولو ته تشویقي کارمزد وایي , چې د ساختماني کارونو د کمیتي او کیفیتي ځانګو اجراء کولو, د پلان تطبیق او یاد هغه ځخه د اضافه کار کیفیت ته بریښنایي بخښلو په ترڅ کې توزیع کیږي او دلاندې فورمول په مرسته پیداکیږي :

$$S_{cp} = V \cdot P + m_1 \text{..................................}(17)$$

په پورته رابطه کې :
$m_1$ - د تشویقي کارمزد اندازه په فیصدۍ سره .
دیادولو وړده چې د تشویقي کارمزد اندازه په ګروپي شکل توزیع کولو لپاره دلاندې رابطې ځخه کاراخستل کیږي :

$$S_{gr} = V \cdot P(1+\frac{m}{100}) \text{..................................}(18)$$

په ساختماني کارونو کې د کارمزد بنستیز شکل د اجاري سیستم دی , چې پدې سیستم کې د مزد اندازه د اداري او کارکوونکو ترمنځ د کاري حجم په موافقې سره په واحد دوخت کې تعینیږي .
د اجاري سیستم د تکمیل شویو کارونو په نظر کې نیولو سره ترسره کیږي او لاندې نقاط د هغه په تعین کې باید په پام کې ونیسو:

- د کارشروع او ختم.
- دمعینو کارونو تکمیلي حجم او د محصول آخرینۍ تولید .
- د کاري مزد مجموعې توزیع کول .

✍ دمكافاتو اندازه چې دكاري مداومت اختصارولو پخاطر او د محصول دكميت او كيفيت اجراء كول.

بيلگې :

۱ – كچېرې درى نفره كارگران په مختلفو درجو سره دهواركارى په امورو كې مصروف وي اودهغه ورځنى معاش په ترتيب سره ۲۸۰ , ۲۵۰ او ۲۲۰ افغانۍ وي او هركارگر په ترتيب سره ۳۰ , ۲۸ او ۲۵ ورځې كاروكړي اودهريوه په معاش باندې ۲۰, ۱۵ او ۱۰ فيصده تشويقي مزد علاوه شي نوپدې صورت كې دهريوه كارگرمعاش دتشويقي گاه مزد په سيستم سره پيداكړى؟

حل :

$T_{gH1} = 280 \quad afg \quad , \quad T_{gH2} = 250 \quad afg \quad , \quad T_{gH3} = 220 \quad afg$

$n_1 = ? \quad , \quad n_2 = ? \quad , \quad n_3 = ?$

$m_1 = 20\% \quad , \quad m_2 = 20\% \quad , \quad m_3 = 20\% \quad , \quad Э_{ППР} = ?$

نولدې ځايه لرو چې :

$$Э_{ППР1} = T_{gH1} \cdot n_1 + m_1 \Rightarrow 280 \cdot 30 + (280 \cdot 30 \cdot \frac{20\%}{100}) = 9660Af$$

$$Э_{ППР2} = T_{gH2} \cdot n_2 + m_2 \Rightarrow 250 \cdot 28 + (250 \cdot 28 \cdot \frac{15\%}{100}) = 8050Af$$

$$Э_{ППР3} = T_{gH3} \cdot n_3 + m_3 \Rightarrow 220 \cdot 25 + (220 \cdot 25 \cdot \frac{10\%}{100}) = 6050Af$$

۲ – كچيرې درى نفره كارگران په يوه ساختماني پروسه كې په كارلگياوي او هريو په ترتيب سره ۲۸ مترمكعب , ۲٦ مترمكعب او ۱۹ مترمكعب كار دكاري پروگرام مطابق اجراء كړي . په هغه صورت كې چې نرخ نامه په في مترمكعب تكميل شوي كار ۱۸۵۰ افغانۍ وي او هريوه كارگرته د ۲۵, ۲۰ او ۱۵ فيصده په اندازه تشويقي مزد علاوه شي نوپدې صورت كې دهريوه كارگرمعاش د تشويقي كارمزد په سيستم سره ومومۍ ؟

حل:

$V_1 = 28m^3 \quad , \quad V_2 = 26m^3 \quad , \quad V_3 = 19m^3 \quad , \quad P = 1850Af$

$Э_{cg.np1} = ? \quad , \quad Э_{cg.np2} = ? \quad , \quad Э_{cg.np3} = ?$

پس لدې ځايه لروچې :

$$Э_{cg.np1} = V_1 \cdot P + m_1 \Rightarrow 28 \cdot 1850 + (28 \cdot 1850 \cdot \frac{25}{100}) = 64750Af$$

$$Э_{cg.np2} = V_2 \cdot P + m_2 \Rightarrow 26 \cdot 1850 + (26 \cdot 1850 \cdot \frac{20}{100}) = 57720Af$$

$$Э_{cg.np3} = V_3 \cdot P + m_3 \Rightarrow 19 \cdot 1850 + (19 \cdot 1850 \cdot \frac{15}{100}) = 40422,5Af$$

# دساختماني کارونوبازدهي

## عرضه او تسليم کول اوپه ساختماني امورو کې دهغه درشد عامل :

### دکارعرضه (بازدهي ) :

دکارثمربخښنه اوحاصل ورکولو ته وايي چې دتوليدشوي محصول دکميت اومصرف شوي وخت په تناسب اومتقابل ارتباط کې قرار ولري اويا په بل عبارت :

دتوليد شوي محصول حجم في واحد د وخت کې چې ديوه نفرکارګر اوياګروپي کارګرانو په واسطه اجراء شوی وي اويا په بله ژبه :

په توليد کې مصرف شوی وخت في واحد دتوليد شوي محصول دکاردبازدهی په نوم ياديږي .

دکارعرضه په يوه ساختمان کې دمحصول په استحصال اوکاري ظرفيت سره تعين کيږي .

دمحصول استحصال :

في واحد دوخت کې دتوليد شوي محصول کميت ته دمحصول استحصال وايي يعنې :

$$B=\frac{V}{T} \;......................(m^3/hour) \quad \therefore \quad T=t\cdot P_{avg}$$

په پورته رابطه کې :

t - ديوه نفرکارګر کاري وخت .

$P_{avg}$ - دکارګرانو منځنۍ تعداد .

دکارظرفيت : په في واحد توليد شوي محصول کې دمصرف شوي وخت مقدارته دکار ظرفيت وايي او په لاندې فورمول سره مشخص کيږي :

$$T_p=\frac{T}{V} \;......................(hour/m^3)$$

لکه څرنګه چې مخکې مو وويل ساختماني محصول په طبيعي اوارزښتي شاخصونو باندې افاده کيږي نو بناء پردې دکار بازدهي هم په طبيعي او ارزښتي شاخصونو سره محاسبه کيږي .

دکاري عرضې (بازدهي ) طبيعي شاخصه :

دتوليد شوي محصول دحجم نسبت (يا دساختماني کارونوجداګانه ډولونه ) دکارګرانو په متوسط تعداد سره ارايه کيږي اوپه لاندې فورمول سره افاده کيږي :

$$\Pi_{PH}=\frac{V}{P_P} \;......................(m^3/labor)$$

دعرضې ارزښتي شاخصه :

دساختماني کارونو د برآوردي ارزښت او د هغه دکارګرانود منځني تعداد نسبت ته دعرضې ارزښتي شاخصه وايي :

$$\Pi_{TC}=\frac{C_{cm}}{P_P} \;......................(Afghani/labor)$$

دکاري عرضې دشاخصو څخه اصلي هدف اومقصد دادی چې دحداقل کار په نتيجه کې لوړترين اوحداعظمي توليد دپرنسيب مطابق په لاس راشي .

دتولید شوي ساختماني محصول سرعت او وده (دمحصولاتو دکیفیت د سطحې په نظر کې نیولو سره) دکاري عرضې د سطحې لوړولو سبب ګرځي یعني دتولیداتو په وړاندې دکم وخت مصرفولو اودهغه په وړاندې په في واحد دوخت کې دمحصولاتو زیات تولیدول دکاري عرضې لمړی مشخصه ده .نولدې کبله دکاري عرضې زیاتوالی اویا دتولیداتو دمؤثریت ارتقاء په ساختماني تولیداتو کې دوخت اختصارول افاده کوي .
کاري عرضه په ملي اقتصاد کې (معمولا" دتولیدي مؤثریت شاخصونه ) دکار دثمر بخښنې اوفعال ساتلو سبب ګرځي .
دمحصولاتو په تولید کې دجسمي کار کموالی دمخکیني اجراء شوي کار په اساس (په تولید کې تجسم شوی کار) چې په کمکي شکل دتولید په سرعت کې رول لري آماده کوي .
تجسم شوی کار:
دکار ضروري وسائل اوډول ډول عناصرو له یوځای کولو څخه کوم مجموعي تولید چې په لاس راځي دتجسم شوي کارپه نوم یادیږي .
دساختماني اقتصاد له رویه کاري عرضه نه یوازې په فعال کار کې میسرکیدای شي بلکه دتجسم شوي کار دکموالي په نتیجه کې داساسي منبع په بڼه په تولیدي فعالیت کې لکه خام مواد , حرارتي مواد , انرژي , ماشین آلات ... چې داجتماعي محصولاتو دودې اوزیاتوالي سبب کیږي اوملي عوایدو ته انعکاس ورکوي ښکاره کیږي .
دساختماني مؤسساتو دعرضې دسطحې زیاتوالي په اړوند لاندې نقاط باید په پام کې ونیسو :
الف - دتولیدي سیستم میکانیزه او اتوماتیزه کول .
ب –دفابریکه اي او نیمه فابریکه اي عناصرو کارول .
ج –دمحلي موادو او عصري افزار آلاتو استعمالول .
د –دکارکوونکو دتخصص سطح او دهغه داوسیدو ځاي منظم برابرول .
ه –دکارعملي تنظیم اوسازماندهي کول .
و- دعصري ساختمانونو اعمارول .
له پورته ټولو معلوماتو څخه دې نتیجې ته رسیږو چې کاري عرضه دیوه هیواد دملي ترقی مهمه وسیله ده او دیوې ټولنې دبهتره ودې بنسټیز عنصر بلل کیږي .
بېلګې :
۱ –کچېږې دکانکریت اچونې درې ټیمونه لګیاوي , اولي ټیم ۱۲ مترمکعب کانکریت په ٦ ساعتونو , دوهمي ټیم ۱۰ مترمکعب په ۷ ساعتونو اودریمي ټیم ۱٤ مترمکعب کانکریت په ۸ ساعتونو کې ریخت کړي , نوپدې صورت کې د هرټیم دکاري استحصال نتیجه اودهغه مؤثریت پیداکړی؟
حل : راکړل شوي ارقام په لاندې ډول دي :

$V_1=12m^3$ , $T_1=6hr$

$V_2=10m^3$ , $T_2=7hr$

$V_3=14m^3$ , $T_3=8hr$

$B_1 = ?$ , $B_2 = ?$ , $B_3 = ?$

لدې ځايه په لاس راځي:

$$B_1 = \frac{V_1}{T_1} = \frac{12}{6} = 2\, m^3/hr$$

$$B_2 = \frac{V_2}{T_2} = \frac{10}{7} = 1{,}492\, m^3/hr$$

$$B_3 = \frac{V_3}{T_3} = \frac{14}{8} = 1{,}75\, m^3/hr \quad , \quad B_1 > B_3 > B_2$$

۲ – كڅيرې دكنودنې (كندنكارى) په يوه پروسه كې درې ټيمونه لګياوي او اولي ټيم ۱۰ مترمكعب په ۸ ساعتونو , دوهمي ټيم ۸ مترمكعب په ٦ ساعتونو او دريمي ټيم ٦ مترمكعب په ٥ ساعتونو كې كندنكاري كړي نوپدې صورت كې دهريوه ټيم د استحصال نتيجه او دهغه مؤثرترين ټيم كوم يو دى ؟

**حل** : دحل لپاره په لاندې ډول عمل كوو:

$V_1 = 10m^3 \quad , \quad T_1 = 8hr$

$V_2 = 8m^3 \quad , \quad T_2 = 6hr$

$V_3 = 6m^3 \quad , \quad T_3 = 5hr$

$B_1 = ? \quad , \quad B_2 = ? \quad , \quad B_3 = ?$

لدې ځايه په لاس راځي:

$$B_1 = \frac{V_1}{T_1} = \frac{10}{8} = 1{,}25\, m^3/hr$$

$$B_2 = \frac{V_2}{T_2} = \frac{8}{6} = 1{,}333\, m^3/hr$$

$$B_3 = \frac{V_3}{T_3} = \frac{6}{5} = 1{,}2\, m^3/hr \quad , \quad B_2 > B_1 > B_3$$

۳ – كڅيرې دجغل اچونې درې ټيمونه چې اولي په ۸ ساعتونو كې ۲٤ مترمكعب , دوهمي په ۷ ساعتونو كې ۲۸ مترمكعب او دريمي ټيم په ٦ ساعتونو كې ۳۰ مترمكعب جغل واچوي دهريوه ټيم كاري ظرفيت او دهغه مؤثرترين ټيم پيداكړئ ؟

$V_1 = 24m^3 \quad , \quad T_1 = 8hr$

$V_2 = 28m^3 \quad , \quad T_2 = 7hr$

$V_3 = 30m^3 \quad , \quad T_3 = 6hr$

$T_{P1} = ? \quad , \quad T_{P2} = ? \quad , \quad T_{P3} = ?$

لدې ځايه لروچې:

$$T_{P1}=\frac{T_1}{V_1}=\frac{8}{24}=0{,}333\,hr/m^3$$

$$T_{P2}=\frac{T_2}{V_2}=\frac{7}{28}=0{,}25\,hr/m^3$$

$$T_{P3}=\frac{T_3}{V_3}=\frac{6}{30}=0{,}2\,hr/m^3 \quad , \quad T_{P1}>T_{P2}>T_{P3}$$

٤ – کچیرې په یوه ساختماني پروسه کې درې تولیدي ګروپونه په ترتیب سره ۲۵ , ۲۰ او ۳۰ تعداد کارګرانو سره مصروف وي , کچیرې دمیاشتي په آخر کې هرګروپ د 7,6 , 5,9 او 9,4 میلیون افغانیو په ارزښت ساختماني کارونه دبرآورد مطابق اجراء کړي نوپدې صورت کې دهر یوه ګروپ دګټې او محصول ارزښتي شاخص او دهغه مؤثرترین پیداکړی ؟

$\tau_{P1}$=25 person , $CM_1$=7,6 Milion

$\tau_{P1}$=20 person , $CM_1$=5,9 Milion

$\tau_{P1}$=30 person , $CM_1$=9,4 Milion

$\Pi_{\Gamma\text{-}C1}$ = ? , $\Pi_{\Gamma\text{-}C2}$ = ? , $\Pi_{\Gamma\text{-}C3}$ = ?

لدې ځایه لروچې :

$$\Pi_{\Gamma\text{-}C1}=\frac{CM_1}{\tau_{P1}}=\frac{7{,}6\cdot10^6}{25}=\frac{304000}{person}$$

$$\Pi_{\Gamma\text{-}C2}=\frac{CM_2}{\tau_{P2}}=\frac{5{,}9\cdot10^6}{20}=\frac{295000}{person}$$

$$\Pi_{\Gamma\text{-}C3}=\frac{CM_3}{\tau_{P3}}=\frac{9{,}4\cdot10^6}{30}=\frac{313333{,}3}{person}$$

٥ – کچیرې دکارګرانو درې ټیمونه د ۳۰ , ۲۰ او ۲۵ نفرو په تعداد سره په یوه ساختماني پروژه کې په جداء ساختماني کارونو لګیاوي , په داسې حال کې چې درې واړه ټیمونه د ٦ میاشتو په موده کې ۲۰۵ مترمکعب , ۱۲۰ مترمکعب او ۱۸۰ مترمکعب کارونه پای ته ورسوي نوپدې صورت کې دهریوه ګروپ دعرضې طبیعي شاخصه اودهغه له جملې څخه مؤثرترین ومومۍ ؟

$\tau_{P1}$=30 person , $V_1$=205 $m^3$ , $\Pi_{TH1}$ = ?

$\tau_{P2}$=20 person , $V_2$=120 $m^3$ , $\Pi_{TH2}$ = ?

$\tau_{P3}$=25 person , $V_3$=180 $m^3$ , $\Pi_{TH3}$ = ?

لدې ځایه لروچې :

$$\Pi_{TH1}=\frac{V_1}{\tau_{P1}}=\frac{205}{30}=6{,}833\,m^3/person$$

$$\Pi_{TH2}=\frac{V_2}{\tau_{P2}}=\frac{120}{20}=6\,m^3/person$$

$$\Pi_{TH3}=\frac{V_3}{\tau_{P3}}=\frac{180}{25}=7{,}2\,m^3/person$$

تمرین :

۱ – کچیرې دکارګرانو درې ګروپه د ۳۰ ,۲۰ او ۲۵ کسانو په تعداد په یوه ساختماني پروژه په جداءګانه کارونو لګیاوي او داکارونه په ګډه سره د ٦ میاشتو په موده کې د ۲۰۵ مترمکعب, ۱۰۲ مترمکعب او ۱۸۰ مترمکعب په کمیت سره پای ته ورسوي ( استحصال کړي ) نو پدې صورت کې دهرګروپ طبیعي بهره دهي (ثمره ) پیداکړی او دهغه مؤثرترین ګروپ وټاکی ؟

۲ – په یوه ساختماني پروژه کې دری نفره کارګران دپلان مطابق ۱۹, ۲٦ او ۲۸ مترمکعب کار په یوه معین وخت کې پاي ته رسوي , کچیرې دنرخ نامې اندازه په فی مترمکعب پای ته رسیدلې کار ۲۲۵۰ افغانی وي ,نو پدې صورت کې د% ۱۵ , %۲۰ او %۲۵ جائزو په نظر کې نیولو سره دهریوه کارګر اجوره دجائزوي کارمزد په سیستم سره پیداکړی ؟

۳ – کچیرې دهوارکاری په یوه پروسه کې دری ټیمونه لګیا وي او :

الف : اولي ټیم ۲٤ مترمکعب کارپه ۸ ساعتونو کې تکمیل کړي .

ب : دوهمې ټیم ۲۸ مترمکعب کارپه ۷ ساعتونوکې تکمیل کړي .

ج : دریمي ټیم ۳۰ مترمکعب کارپه ۸ ساعتوکې تکمیل کړي .

نوپدې صورت کې دهرټیم کاري ظرفیت دهوارکاری په پروسه کې ومومی اودهغه مؤثرترین ګروپ وټاکی ؟

٤- کچیرې دقیر اچونې په یوه پروسه کې دری ټیمونه لګیاوي , دلاندې ارقامو په موجودیت کې دهرټیم داستحصال نتیجه پیداکړی اودهغه مؤثرترین ټیم وټاکی ؟

الف : اولي ټیم ۱۲ مترمکعب قیر په ٦ ساعتونو کې تکمیل کړي .

ب : دوهمې ټیم ۱۰ مترمکعب قیر په ۷ ساعتونوکې تکمیل کړي .

ج : دریمي ټیم ۱٤ مترمکعب قیر په ۸ ساعتوکې تکمیل کړي .

٥ – کچیرې دکنودنې په یوه پروسه کې دری ټیمونه په داسې ډول لګیاوي چې اولي ټیم ۱۰ مترمکعب کار په ۸ ساعتونو کې او دوهمي ټیم ۸ مترمکعب کار په ٦ ساعتونوکې اودریمي ټیم ٦ مترمکعب په ٥ ساعتونوکې تکمیل کړي نوپدې صورت کې دهرټیم استحصالي نتیجه پیداکړی اودهغه موثرترین ټیم په ګوته کړی.؟

٦ – کچیرې په یوه ساختماني پروژه کې دری تولیدي ګروپونه د ۲۵ , ۲۰ او ۳۰ نفرو پرسونل په تعداد سره لګیاوي ,کچیرې ددریو میاشتو په موده هر تولیدي ګروپ په ترتیب سره د 7,6 , 5,9 او 9,4 میلیون افغانیو په ارزښت سره دساختماني برآورد مطابق پای ته ورسوي نوپدې صورت کې دهرګروپ دګټې اوبهره دهي ارزښتي شاخصه پیداکړی اودټولو ګروپونو مؤثرترین ګروپ ومومی ؟

۷ – کچیرې دری نفره کارګر په یوه ساختماني پروژه کې دکانکریت اچونې په کار لیګاوي , کچیرې دهریوه کارګر ورځنی معاش په ترتیب سره ۱۰۰۰ ,۸۰۰ او ٥۰۰ افغانی وي اوهر یو کارګر په ترتیب سره په یوه میاشت کې ۳۰ ورځې او دوهمه درجه کارګر په یوه میاشت کې ۲٦ ورځې او دریمه درجه کارګر په یوه میاشت کې ۲٤ ورځې کار وکړي نوپدې صورت کې د هر یوه کارګر اجوره دکارمزد په سیستم سره پیداکړی ؟

۸ – کچیرې دری نفره کارګران د ٤ , ٥ او ٦ درجو سره دهوارکاری په امورو مصروف وي اود هر یوه ورځنی معاش ٥۰۰ , ٤۰۰ او ۳۰۰ افغانی وي او ذکر شوي کارګران په ترتیب سره دپروګرام مطابق په یوه میاشت

کې ۳۰ , ۲۵ او ۲۸ ورځې کار وکړي اوهر یوه ته ۲۰% , ۱۵% او ۱۰% جائزې په نظر کې نیول شوي وي نوپدې صورت کې دهر یوه کارګر معاش دجائزوي ګاه مزد په سیستم سره پیدا کړئ ؟
۹ – کچیرې دری نفره کارګران دجغل اچونې په پروسه مصروف وي او اولي نفر ۲۰ مترمکعب جغل , دوهمي ۲۲ مترمکعب جغل اودریمي ۱۸ مترمکعب جغل په یوه معین وخت کې واچوي , کچیرې په في مترمکعب جغل اچونې سره نرخ نامه ۱۶۰۰ افغانۍ تعین شوی وي نو پدې صورت کې دکارمزد په سیستم سره د هریوه کارګر معاش او اجوره تعین کړئ ؟
دنوموړوسوالونو حل ګرانو محصلینو ته پریږدو.

# پنځم فصل

## د ساختماني محصولاتو تمام شوی قیمت

تمام شوی قیمت : د ساختماني مؤسساتو دمحاسبوي او پولي مصارفو شاخصه دهغه د محصولاتو په تولیداتو کې د ساختمان تمام شوی قیمت احتواء کوي .یا په بل عبارت :
د ساختماني محصولاتو ذاتي ارزښت چې په هغه کې ګټه نه وي شامله دهغه دتمام شوي قیمت څخه عبارت دی . نوموړی قیمت په ساختماني امورو کې په لاندې دری شکلونو ویشل کیږي :
۱ – تمام شوی برآوردي قیمت :
دمستقیمو او غیرمستقیمو مصارفو مجموعه احتواء کوي (هغه قیمت چې دپلان اوفایدې له مجموعې اوانباشت څخه خالي وي دتمام شوې برآوردي قیمت په نوم یادیږي).
۲ – پلاني تمام شوی قیمت :
د ساختماني محصولاتو په تولیداتو کې دپلان مطابق دمستقیمو اوغیرمستقیمو مصارفو اندازه ده چې د کم خرځۍ په امکاناتو سره د ساختماني مؤسساتو دمادي – تخنیکي تجهیزاتو دکاري معینو شرایطو په مرسته تعین کیږي . اودلاندې رابطې په مرسته افاده کیږي :

$$C_{C\Pi} = \Pi + H_p - Э_c \quad ..........................................(19)$$

په پورته رابطه کې : $Э_c$ - دکم خرځۍ مجموعه ده .
د ساختماني محصولاتو تمام شوی قیمت کیدای شي کم یا زیات شي , کچیرې نوموړی قیمت کم شي نوپدې صورت کې دوخت داختصار په خاطر د ساختماني امورو درسته سازماندهي تامین کیږي او له بله پلوه د ساختماني محصولاتو په تمام شوي قیمت کې کم خرڅي (دبرآوردي تمام شوي قیمت په پرتله ) رامنځ ته کیږي .

۳ – حقیقي تمام شوی قیمت :
ددقیقو محاسباتو په نتیجه کې د ساختماني محصولاتو دټولو حقیقي مصارفو مجموعې ته وایي . په دې ترتیب د حقیقي تمام شوي او پلاني تمام شوي قیمتونو له پرتله کولو ( په داسې حال کې چې $C_{c\varphi} < C_{cn}$ وي ) دتمام شوي قیمت دکموالي سطح $\Delta C_c = C_{cn} - C_{c\varphi}$ ښیي .

برآوردي تمام شوی قيمت په خلاصه ډول په لاندي جدول کې ښودلای شو :




دبرآوردي تمام شوي قيمت له پورتني جوړښت څخه لاندې نتيجې ته رسيږو:

١ – دکارکوونکو اساسي اجوره = ١٥% .
٢ – دموادو مصارف , عناصر او ديتايلونه = ٤٥% .
٣ – دميکانيزه امورو اوماشين آلاتو دپايښت اوګټې مصارف =٢٥% .
٤ – په تخميني شکل دمستقيمو مصارفو مجموعه =٨٥% .
٥ – په تخميني شکل دغيرمستقيمو مصارفو مجموعه = ١٥% .

# شپږم فصل

## په ساختماني امورو کې قيمت (بيه)

دساختماني توليد شويو محصولاتو دارزښت پولي ارايه کولو ته ساختماني قيمت(بيه) وايي .

ساختماني قيمت دمحصولاتو دعرضه کولو مهمترينه وسيله ګڼل کيږي او دتوليدي پروسو دانسجام عمده ترينه دنده په غاړه لري .اودساختماني مؤسساتو , دتوليدي فعاليتونو پولي محاسبات , درسرمايه ټاکنې احجام , توليدي مؤثريت , دکار عرضه , تمام شوی قيمت , دتوليد شويو محصولاتو تسليم کول او نورو اقتصادي مسائلو لکه دساختماني امورو قيمت , پروګرام جوړونه , قراردادونه , برآورد اومحاسبات , تمويل اوداسي نورو موضوعاتو دحل لپاره زمينه برابروي .

برعلاوه لدې ساختماني قيمت دساختماني فعاليتونو اومعيارونو يو عمده شاخصه تشکيلوي , نوپدې بنسټ هر توليد شوی محصول بايد دمعين قيمت لرونکی وي اودهغه اندازه دپلان مطابق (دمصارفو جبران او دهغه دانباشت فيصدي په نظرکې نيولوسره ) دمؤسساتو توليدي فعاليتونو دادامې او اقتصادي بنسټ تقويه کولو په خاطرتعين کړای شي .

دساختماني محصولاتو د قيمت ټاکنې په پروسه کې په بنستيز ډول دمحل اوساحې موقعيت او توليدي شرائطوته په پاملرنه سره دمناسب قيمت څخه استفاده کول دهغه ديوه مهم اصل بڼه لري.

نو پدې بنسټ دساختماني محصولاتو او موادو قيمت په مختلفو منطقو کې دهغه محلي شرائطو مطابق تثبيت کيږي.
نوموړي مشخصات په معلوماتي اسنادو او سرچينو کې لکه په ساختماني نورمونو اوقواعدو , توحيدي برآوردي نورمونو , توليدي قيمت اېښودنو , منطقوي او محلي قيمت اېښودنو اوداسې نورو کې بهتره ښکاره کيږي .نوپدې ترتيب دساختماني محصولاتو قيمت دهغه دبرآوردي ارزښت په بناء تعين کيږي چې دلاندې رابطې په شکل ښودل کيږي :

$\Psi = C_c + \Pi$ ..........................................(afghani)

څرنګه چې مخکې موو ويل دساختماني محصولاتو قيمت دهغه دبرآوردي ارزښت سره برابردی، نو پدې بنسټ قيمت دساختماني محصولاتو دبرآوردي ارزښت سره برابر دی، يعنې :

$\Psi = C_M$ ..........................................(afghani)

نوپدې صورت کې دساختماني محصول قيمت چې برآوردي ارزښت برآورد کوي دلاندې فورمول په مرسته سره ښودل کيږي :

$C_{CM} = \Pi_p + H_p + n_H$ ..........................................(afghani)

لدې ځايه په لاس راځي :

$C_{CM} = [(C_{MaT} + C_{Зop.nl} + C_{Maw}) + H_p] + n_H$ ..........................................(afghani)

په پورته رابطه کې :

$\Pi_p$ - مستقيم مصارف , $H_p$ - غيرمستقيم مصارف , $n_H$ - پلاني فايده , $C_{MaT}$ - دموادو ارزښت , $C_{Зop.nl}$ - دکارګرانو دمعاشاتو ارزښت , $C_{Maw}$ - دماشين آلاتو دعرضې ارزښت .

په زياتو حالاتو کې دساختماني محصولاتو قيمت دلاندې فورمول په مرسته هم تعين کيږي :

$u = C_{cn} + \Pi_n + \Phi_{yg}$ ..........................................(afghani)

په پورته فورمول کې :

$$\Phi_{yg} = \frac{C_{o\varphi}}{C_{oM}}$$ ..........................................(afghani)

$\Phi_{yg}$ - دمخصوص فند ظرفيت .
$C_{o\varphi}$ - دساختماني محصولاتو کلنی ارزښت .
$C_{oM}$ - دتسليم شويو محصولاتو ارزښت .

دیادولو وړ ده چې په ساختماني امورو کې فايده دساختماني محصولاتو دتمام شوي قيمت له رويه دفيصدی په شکل تعين کيږي .
يعنې په جداګانه ساختمانونو کې د ۱۰ څخه تر ۳۰ فيصده پورې او په صنعتي- مدني ودانيو کې ۱۵ فيصده تعين کيږي .
دموضوع دوروستني تحليل څخه کولای شو ووايو چې ساختماني قيمت په ساده ترين شکل کولای شو دلاندې رابطې په مرسته هم تعين کړو :

$$u = C_a + C_c\left(\frac{10\% - 30\%}{100}\right)$$ ..........................................(afghani)

فرضیه :
کچېرې دیوه ساختماني محصول تمام شوی قیمت دوه میلیونه او دوه سوه پنځوس زره افغانۍ وي او دفایدې نورم ۱۵% تعین شوی وي نوپدې صورت کې دهغه قیمت مساوي دی په :

$$u=225\cdot10^4+225\cdot10^4\left(\frac{15\%}{100}\right) \text{ ..........................................(afghani)}$$

# اووم فصل

# په ساختماني مؤسساتو کې مفاد اوفایده داري

فایده اوپه ساختمان کې دهغه رول :
دساختماني مؤسساتو داقتصادي مؤثریت ارزیابي کولو یو ه عمده ترینه شاخصه ده اوپه تولیدي سطحه کې اساسي او ارزښتناکه رول لري .
مفاد او ګټه داقتصادي اواجتماعي ودې په جوړښت , دتخنیکي –اقتصادي وروسته والي په له منځه وړلو , دتولیدي قوې وده , دکارمؤثریت او دهغه دسطح ارتقاء اودمادي پایو دتحکیم په برخه کې دلوړ اهمیت لرونکې ده . نوپدې بنسټ مفاد په ساختماني مؤسساتو کې دهغه دتولیداتو اومحصولاتو دمالي تا مینیتونو (نوي سرمایه ایښودنه ) له لویو منابعو څخه حسابیږي .
په عمومي ډول مفاد (ګټه ) دلاندې رابطې په مرسته پیدا کوو:

$$M=u-C_c \text{ .......................(afgha)}$$

په پورته رابطه کې :
$C_c$ - دساختماني محصولاتو تمام شوی قیمت .
$u$ - دساختماني محصولاتو قیمت .
لکه څرنګه چې مفاد په ساختماني مؤ سساتو کې دساختماني محصولاتو برآوردي ارزښت افاده کوي نوپدې بنسټ مفاد دلاندې فورمول په مرسته افاده کولای شو:

$$M=C_{CM}-C_c \text{ .......................(afgha)}$$

په پورته رابطه کې $C_{CM}$ دساختماني محصولاتو برآوردي ارزښت افاده کوي .
دپورته ذکرشوی مشخصې څخه داسې څرګندیږي چې په ساختماني مؤسساتو کې مفاد د ساختماني محصولاتو د برآوردي ارزښت او پلاني تمام شوې قیمت ترمنځ توپیر بیانوي .
مفاد په ساختماني مؤ سساتو کې په لاندې ډولونو ویشل کیږي :

۱ –بیلانسي مفاد .

۲ –محاسبوي مفاد .

بیلانسي مفاد کیدای شي دلاندې رابطې په مرسته تعین شي :

$$M_d=[C_{CM}-C_\varphi]+\Pi_1+\Pi_2+\cdots\Pi_n \text{ .......................(afgh)}$$

په پورته رابطه کې :
$M_d$ - بیلانسي مفاد .
$C_{CM}$ - دساختماني محصولاتو برآوردي ارزښت .

$C_{\varphi}$ - د ساختماني محصولاتو حقيقي ارزښت .

$\Pi_1+\Pi_2+\cdots\Pi_n$ - د ساختماني پروژې دجداء څانګو مفاد او ګټې.

محاسبوي مفاد کولای شو دلاندې رابطې په مرسته تعین کړو:

$$M_P = M_d + \Im_{d \cdot k} + \Im_{\Pi \cdot \varphi} .......................(afghani)$$

په پورته رابطه کې :

$\Im_{d \cdot k}$ - دبانکي قرضو تاديه کول .

$\Im_{\Pi \cdot \varphi}$ - دتوليدي فندونو مصارف (اساسي او دوراني).

محاسبوي مفاد په بنسټيز ډول د ساختماني مؤسساتو د کلنۍ بوديجې دمحاسباتو , ضرورتونو او مادي بوديجې دتقويه کولو لپاره په نظرکې نيول کيږي .

دمفاد دحاصلولو په نتيجه کې ساختماني مؤسسات دمصارفو له جبران , تشويقي –اقتصادي فندله برخې او بانکي قرضو له تاديه کولو څخه وروسته دتوليدي مؤسساتو دبعدي فعاليت او دولتي بوديجې ته توضيع کيږي .

د ساختماني مؤسساتو دمفاد دزياتوالي بنسټيزمنابع لاندې مطالب په برکې نيسي :

۱ – دکاري عرضې وده , فرمايش کوونکي ته له ميعاد څخه مخکې دپروژې تسليمول .

۲ – دمعاصر تخنيک کارول اودهغه څخه د استفادې شرائط بهتره کول .

۳ – دتوليدي سيستم ميکانيزه او اوتوماتيزه کول –دتوليدي وخت اختصارول .

٤ – دتوليدي پروسې رشتوي (څانګه اي ) کول .

٥ – په مجموعي ډول په مستقيمو اوغيرمستقيمو مصارفو کې کم خرڅي کول اود ساختماني محصولاتو دتمام شوي قيمت کموالی رامنځ ته کول .

٦ – سازماندهي , دتوليد سالمه اداره او پروګرام جوړونه اوداسې نور .

پورتني فکتورونه دتوليدي مؤثريت او مفاد دارتقاء سطح پورته وړې او د ساختماني مؤسساتود فايدې په سطح په مستقيم ډول مثبت تاثيرات لري .

فايده داري د ساختماني مؤسساتو په مختلفو مواردو کې دمفاد نسبت په قيمت , برآوردي ارزښت , تمام شوی قيمت , ددوراني وسائلوکلنۍ متوسط ارزښت , د اساسي فندونو متوسط ارزښت ښيي .يعني :

$$y_P = \frac{\Pi}{u} \cdot 100\% \quad \text{or} \quad y_P = \frac{\Pi}{C_M} \cdot 100\%$$

$$y_P = \frac{\Pi}{C_c} \cdot 100\%$$

$$\left( y_P = \frac{\Pi}{C_{odcp}} \cdot 100\% \quad , \quad y_P = \frac{\Pi}{C_{ocp}} \cdot 100\% \right)$$

$$y_P = \frac{\Pi}{C_{odcp} + C_{o\varphi}} \cdot 100\%$$

بېلګه :کچېرې ديوې ساختماني پروژې په اعمار کې کارول شوي مصارف 4,6 ميليون افغانۍ وي , د ساختماني ماشين آلاتو د پاينښت ارزښت 1,4 ميليون افغانۍ وي او د اساسي کارګرانو معاش نيم ميليون افغانۍ وي , دمستقيمو مصارفو څخه د غيرمستقيمو مصارفو نورم ۱۰% او دمستقيمو او غيرمستقيمو مصارفو د مجموع څخه د پلاني مفاد نورم ۱۵% تعين شوی وي , نوپدې صورت کې تمام شوی قيمت او د پروژې مجموعي برآوردي ارزښت پيدا کړی ؟

حل :

$C_{MaT} = 4,6 \quad milion$

$C_{Maw} = 1,4 \quad milion$

$C_{Зap \cdot n1} = 0,5 \quad milion$

$n_H = 15\%(\Pi_P + H_P)$

$C_c = \Pi_P + H_P$

$C_{CM} = ?$

لدې ځايه لروچې :

۱ – مستقيم مصارف :

$\Pi_P = C_{MaT} + C_{Зap} + C_{Maw} \Rightarrow 4,6 + 0,5 + 1,4 = 6,5 \text{ Milion}$

$H_P = 10\% \cdot \Pi_p = 10\% \cdot 6,5 = 0,65 \text{ Milion}$

$n_H = 15\%(6,5 + 0,65) = 1,072 \text{Milion}$

لدې ځايه په لاس راځې چې :

$C_{CM} = [(C_{MaT} + C_{Зap} + C_{Maw}) + H_p] + n_H \Rightarrow [(4,6 + 0,5 + 1,4) + 0,65] + 1,072 = 8,22 \text{ Milion}$

۲ – کچېرې ديوه پنځه منزله اداري تعمير چې په يکريخت شکل کانکريت کيږي او د هغه ټول حجم ٦٤٢٠ مترمکعب دی , لاندې مصارف د هغه په مختلفو برخو کې اجراء شوي وي :

الف – مياشتني مصارف :

- دمقدماتي کارونو په ځانګه کې 2,6 ميليون افغانۍ .
- دځمکې لاندې کارونو کې 5,2 ميليون افغانۍ .
- دځمکې پرمخ کارونو لپاره 28,8 ميليون افغانۍ .
- په مجموعي ډول دتخنيکي سنتاري کارونو لپاره (اول , دوهم اودريم قلمونو مجموعه) ۱۵% .
- دنورومختلفوکارونو لپاره (اول , دوهم , دريم او څلورم قلمونو مجموعې) ۱۰% .

ب – د ساختماني پروژې د اساسي کارګرانو معاشات ۱٤% (د ساختماني موادو دمجموعي مصارفو له جملې څخه) .

ج – د ساختماني ماشين آلاتو د پاينښت مصارف 4,5 ميليون افغانۍ .

د – دمستقيمو مصارفو له جملې څخه ۱۲% غيرمستقيم مصارف .

ه- د پلاني مفاد مجموعه (انباشت) ۱۵% (دتعمير دتمام شوی قيمت له مجموعې څخه) .

نوپدې صورت کې دذکرشوې ساختماني پروژې برآوردي ارزښت محاسبه کړی ؟

حل :

$$\Pi_P = C_{MaT} + C_{Зар} + C_{Maw} \Rightarrow 46,299 + 6,48186 + 4,5 = 57,28086 \text{ Milion}$$

$$H_P = 12\% \cdot \Pi_p = 12\% \cdot 57,28086 = 6,87385 \text{ Milion}$$

$$n_H = 15\%(57,28086 + 6,8738) = 9,623184 \text{Milion}$$

$$C_{CM} = \Pi + H_p + n_H \Rightarrow 57,28086 + 6,8737 + 9,23184 = 73,78 \text{ Milion}$$

# آتم فصل

## برآوردي ارزښت

دساختماني امورو دبرآوردي ارزښت په اړوند اساسي موضوعات :

برآوردي ارزښت د هغه د نورمونو په بنسټ سنجش کیږي , لکه څرنگه چې مخکې موهم وویل برآودري ارزښت د مستقیمو , غیرمستقیمو مصارفو او پلاني مفاد څخه تشکیلیږي .

۱ - **مستقیم مصارف** : مستقیم مصارف لاندې فکتورونه شاملوي .

دموادو مصارف , اصلي معاشات دکارگرانو داضافه کارۍ اندازه چې مستقیما" په ساختماني امورو کې په کار مصروف دي , دساختماني میکانیزمونو او ماشین آلاتو دپایښت مصارف (دمیخانیکي کسانو او ماشین آلاتو کارگرانو داضافه کارۍ په شمول ) .

۲ – **غیرمستقیم مصارف** : غیرمستقیم مصارف لاندې فکتورونه شاملوي .

### الف - دساختماني مؤسسې اداري مصارف :

- داداري پرسونل اصلي او علاوه گي معاشات .
- دساختماني محصولاتو په توليدي پروسه کې دتاسيساتو اوتعميراتو استهلاک .
- دساختماني ساحې دساتنې او محافظت مصارف , تحويل خانې , گدامونه او داسې نور .

### ب – دکارگرانو خدماتي مصارف :

- داوسيدو (معيشيت) خدمات .
- دصحې بيمې مصارف .
- دچاپيريال ساتنې مصارف .
- دايمني تخنيک مصارف .
- ترانسپورتي –منطقوي مصارف .
- ماکولات اودې ته ورته دضرورت وړ وسايلو مصارف .

### ج –دکاري انتظام او اداري مصارف :

- جيولوژيکي –جيود يزيکي سروې .
- دساحې د روښنايې مصارف .
- دلازم اسهلاک او ارزان قيمته مصارفو اندازه .
- کرايه –سفريه او داسې نور مصارف .

د ساختماني اقتصاد له مخې غيرمستقيم مصارف داجتماعي لحاظه د ساختماني محصولاتو د توليد لپاره ضرور دي .اود مستقيمو مصارفو په پرتله يو توپيرلرونکی رول لري .
مستقيم مصارف په ساختماني اساسي کارونو کې مستقيما" تراستفادې لاندې قرار لري .
غيرمستقيم مصارف په توليدي شرائطو , کاري سازماندهي , اداره او خدماتي څانګوکې اجراء کيږي .نوپدې صورت کې مستقيم مصارف هغه منابع احتواء کوي چې مستقيما" په توليدي پروسه کې په مصرف رسيږي .اودمستقيمې محاسبې له لارې د ساختماني محصولاتو په تمام شوي قيمت کې شامليږي . مګر غيرمستقيم مصارف هغه مصارف احتواء کوي چې دپروژې په اداره , انتظام او توليدي پروسې د ضروري شرائطو په آماده کولو کې په مصرف رسيږي , اودغيرمستقيمې محاسبې (دمستقيمو مصارفو د فيصدۍ په بيا بيا سنجش کولوسره) له لارې د ساختماني مستقيمو مصارفو (دتمام شوي قيمت په برکې) د سنجش له رويه محاسبه کيږي .
په معمولي ډول هغه مخارج چې دمستقيم سنجش او محاسبې څخه نه شي تعين کيدای دغيرمستقيمو مصارفو په جمله کې راځي .
ديادولو وړده چې زمونږ په ګران هيواد افغانستان کې غيرمستقيم مصارف داداري مصارفو په نوم سره ياديږي , مګراداري او مستقيم مصارف په درست ډول سره نه تفکيک کيږي .
په غالب ګمان داسې تصور کيږي چې ټول هغه مصارف چې په يوه ساختماني پروژه کې په مصرف رسيږي مستقيم مصارف دي او يوائې دمؤسسوي کارونو , مرکزي شعبو او اداري کارونو مصارف غيرمستقيم مصارف دي , بعضې کسان داسې تحليل کوي چې ټول پولي وجوه او توليدي تسهيلات د مستقيمو مصارفو له جملې څخه دي , مګر دنورم او برآورد له رويه صرف دکارګرانو اصلي او اضافي معاشات (داجراء شوي کار دحجم له رويه دکارګرانو درجه وار معاشات) او دماشين آلاتو دپايښت مصارف په مستقيمو مصارفو کې شميرل کيږي او نور ټول علاوه ګې کليات لکه :منطقوي مصارف , ماکولات او داسې نور دغيرمستقيمو مصارفو له جملې څخه دي .
دمستقيمو اوغيرمستقيمو مصارفو مجموعه د ساختماني محصولاتو تمام شوی قيمت تشکيلوي چې د ساختماني اقتصاد له رويه هر څومره چې دمحصولاتو په تمام شوي قيمت کې معقوله کم خرڅي رامنځ ته کيږي په همغه اندازه دهغه اقتصادي مؤثريت زياتيږي , چې په نتيجه کې د ساختماني مؤسسې د توليدي فعاليتونو نورمال پرمختګ , دکارکوونکو دمعيشيت (ژوند) خدمتي تامينيت , دمالي بنسټ تقويه او بلآخره دمعين مفاد فيصدي دمستقيمو اوغيرمستقيمو مصارفو له مجموعې څخه دمحصولاتو په تمام شوي قيمت زياتيږي .اودمحصول برآوردي ارزښت تعينوي .
د ساختماني کارونو برآورد په مختلفو لارو اوطريقو سره محاسبه کيږي په لاندې ډول :

### ۱ – دساختماني کارونو دجداء اشکالو برآورد او محاسبه :

د ساختماني مختلفو معينو کارونو ارزښت لکه سنګ کاري , هوارکاري , دتهداب (بنسټ) کنودنې , دديوالونو جوړول اوداسې نور سنجش او محاسبه کيږي .

### ۲ – پروژه وي يا موضعي برآورد :

دپروژې قسمي مصارف , تکنالوژيکي ارزښت , دخريدارۍ (اخستلو) مصارف او بلآخره د ساختماني پروژې تدارکات تعينوي .

## ۳ – مجموعي برآورد :

په مجموعي برآورد سره دنظرور ساختمان عمومي ارزښت تعينوي .
ددغه برآورد اصلي فکتورونه تجهيزات , افزار آلات او ټول هغه مصارف چې په ساختمان پورې اړه لري دي .
په دې ډول برآورد کې د ساختماني مؤسسې ټول پولي او علاوه ګې مصارف شامل دي .لکه مؤقتي تعميرات , توليدي ورکشافونه او داسې نور .
مجموعي برآورد په مختلفو ځانګو کې ترتيب شوېدي (د ساختماني پروژې د مصارفو سنجش په لاندې مواردو کې ):

### الف - : د ساختماني ساحې آماده کول :

په دغه مصارفو کې د ساختماني ساحې هوارول , د تخريب لاندې عماراتو دخصاراتو جبران کول , دهغه زراعتي ځمکو دخصاراتو جبران چې په ساختماني ساحه کې قرار ولري , دونو –بوټو او ګټورو ګياوو له منځه وړلو خصارات , دغيرګټورو شيانو بې ځايه انتقال , دچاپيريال پاک کاري او داسې نور په نظرکې نيول کيږي .
ديادول وړ ده چې د نقشې لاندې زراعتي ځمکو او عماراتو دخصاراتو جبران کول په نورو مصارفو پورې اړه لري .

### ب - : د ساختماني پروژو اساسات :

دا ځانګه د ساختماني پروژې له مصارفو علاوه دموقتي تعميراتو , اداري , مسکوني , تحويل خانو او نورو کمکي تجهيزاتو مصارف په برکې نيسي .

### ج - : فرعي (کمکي) او خدماتي پروژې :

په دې ځانګه کې دپروژې هغه مصارف شامل کيږي چې د ساختماني محصولاتو په توليد کې کمکي او فرعي رول لري لکه :
سنتاري (بهداشتي ) کارونه , تکنيکي کارونه , ايمني تخنيک , کلتوري تاسيسات ,صحي کلينيک او داسې نور .

### د - : الکترونيکي پروژې :

نومورې ځانګه دانرژيکي پروژو ټول برآوردي مصارف لکه : دبرق انتقال مصارف , د ساختمانی ساحز روَښنايي , جنراتورونه يا دبرق برجونه او داسې نور تعينوي .

### ه – د ترانسپورتيشن او انتقالي امورو پروژې :

په دې ځانګه کې تاميني مصارف (اجاره يا اخستل ) دبارووړونکو واګونو دانتقال وسايل , مخابراتي شبکې اوداسې نور په نظرکې نيول کيږي .

### و - : داوبو تامينولو خارجي شبکې , حرارت , ګاز او کاناليزاسيون :

په دې ځانګه کې دنل دوانۍ ټولې شبکې , مرکز ګرمۍ ,ګازي لولې , کاناليزاسيون او داسې نور سنجش او اندازه کيږي .

### ز - : د ساختماني محيط تسليمولو ته آماده کول :

په دې ځانګه کې ټول هغه مصارف چې د ساحې په شينوالي - تازه ګۍ او د ساحې په ساتنه او حفاظت کې مصرفيږي په برکې نيسي , بلآخره فرمايش کوونکي ته دتسليمولو مصارف چې په برکې نيسي .

# پای